www.Taleemulislam-Radio.com

# نبوي معجزې

ليکوال:

مولوي عبدالهادي حماد



Ketabton.com

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نبوي معجزې

ليکوال

مولوي عبدالهادي حماد

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا :
www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپ حقوق په خپرندویه ټولنه اړه لري

**د کتاب پېژندنه :**

- د کتاب نوم :: نبوي معجزې
- ليکوال :: مولوي عبدالهادي حماد
- خپرندوی :: علامه رشاد خپرندويه ټولنه / کندهار
- کمپوز او ډيزاين :: علامه رشاد کمپيوټر اداره / کندهار
- کمپوزر :: خپله ليکوال
- چاپکال :: ۱۳۸۸ ش – ۲۰۰۹ ع
- چاپشمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه
- د خپرونو لړ :: (۳۲)

**اړيکې**

m_rohyal2006@hotmail.com
mrohyal@gmail.com

**گرځنده**

۰۰۹۳(۰) ۷۰۰۳۲۶۰۱۱

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا :
www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپروونکي د يادښت پر ځای :

# معجزه د رسالت نخښه ده

لوی خدای د خپلو بنده ګانو د لارښوونې لپاره په بېلابېلو وختونو کي لارښوونکي را استولي دي، چي د دغو لارښوونکو په واسطه يې خپل حق دين خپور کړی او د دوی په ذريعه يې د جهالت توري تيارې روښانه کړي. هر لارښوونکي خپل قوم سمي لاري ته رابللی او په دغه لاره کي يې هر ډول تکليف او زحمت ته اوږه ورکړې. د پيغمبرانو په سلسله کي ځيني داسي انبياء هم تېر سوي چي د تبليغ لپاره يې په سوونو کلونه خوارۍ کښلي او بېلابېل تکليفونه او مشقتونه يې پر ځان وړي دي.

زموږ ستر پېشوا حضرت محمد مصطفی ﷺ د يوې ستري معجزې تر څنګ چي د وروستي آسماني کتاب څخه عبارت ده، د خپل امت د لارښووني او رهنمايي کولو په موخه بېلابېلي معجزې ښکاره کړي، چي هره معجزه د هغوی پر رښتيني رسالت دلالت کوي، د حضرت محمد مصطفی ﷺ د معجزو بيانونه به د دغه ډول رسالو تر زغم اوښتي وي، خو د نوي نسل د پوهاوي او د اسلام پوهني او محمدي رسالت سره د نوو ځوانانو د بلدتيا په موخه زموږ همکار او خوږ ژبي ليکوال ښاغلي مولوي عبدالهادي حماد د نبوي معجزو په نوم يوه کوچنۍ خو د محتوی په لحاظ يوه مغتنمه رساله ليکلې، علامه رشاد خپرندويه ټولنه د ښاغلي حماد صاحب دغه رساله د تبرک او د نوي نسل د خپل دين او رسول سره د ميني په موخه خپروي، خدای دي وکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي له دغي لاري د خپل ځان او ولس لپاره د خدمت مصدر وګرځو.

موږ ښاغلي حماد صاحب ته د دغي رسالې د چاپ مبارکي وايو او د دې تر ښنګ دوعا کوو چي لوی خدای ﷻ دي حماد صاحب ته د اوږده او آرام ژوند تر څنګ محمدي امت ته د نور خدمت توان ورکړي.

په درنښت
علامه رشاد خپرندويه ټولنه
کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


۱. پیل ........................................ ۹
۲. معجزه څه ته وايي؟ ........................ ۱۲
۳. د ځینو انبیاوو علیهم السلام معجزې .......... ۱۴
۴. د معجزې مقصد .............................. ۱۷
۵. کرامت ...................................... ۱۹
۶. سحر او جادو ................................ ۱۹
۷. د سحر او معجزې توپیر ....................... ۲۱
۸. د معجزې ډولونه ............................. ۲۳
۹. د حضرت محمد ﷺ معجزې ...................... ۲۴
۱۰. قرآنکریم یوه څرګنده معجزه ده ............ ۲۷
۱۱. د سپوږمۍ دوه ځایه کېدل .................. ۳۰
۱۲. د کافرانو په شوم هدف د رسول الله ﷺ ...... ۳۳
۱۳. د حضرت محمد ﷺ معجزه وه چي ............... ۳۷
۱۴. ابوجهل او ملګرو ته د رسول الله ﷺ ......... ۳۹
۱۵. و عتیبه ته د رسول الله ﷺ ښېرا ............. ۴۴
۱۶. په اسلامي نړۍ کي د عمري همت اغېز ........ ۴۶
۱۷. د حضرت عمر رضی الله عنه اسلام راوړل ...... ۴۶
۱۸. دام خیر په اړه د رسول الله ﷺ دعا .......... ۵۰
۱۹. د ابوهریره رضی الله عنه د مور په اړه د ..... ۵۴
۲۰. د وچکالۍ څخه خلاصون ...................... ۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۱. له آسمان څخه د ملایکو راکښته کېدل ..... ۵٦
۲۲. د بدر په غزا کي باران اورېدل ............ ۵۸
۲۳. نبوي معجزه وه چي خاورو کافران .......... ۵۹
۲۴. د احزاب د غزا وړاندوینه ................. ٦۰
۲۵. د احزاب په غزا کي د سېلۍ راتګ .......... ٦۰
۲٦. د حنین په غزا کي د معجزې په مټ ......... ٦۴
۲۷. د رسول الله ﷺ د وژني په شوم هدف ........ ٦٦
۲۸. د معراج پېښه نبوي معجزه وه .............. ٦۷
۲۹. د رسول الله ﷺ د ځیګر مبارک ............. ۷۲
۳۰. د حدیبې په تړون کي د رسول الله ﷺ .... ۷۳
۳۱. د ونو اطاعت .............................. ۷۳
۳۲. د غرونو سلام .............................. ۷۴
۳۳. د لړو خرماوو ډېروالی ..................... ۷۴
۳۴. د څو تنو په غذا په سوونو خلک ماړه ....... ۷٦
۳۵. د معجزې په مټ د امپراتوریو د ........... ۷۷
۳٦. له ډبرو څخه رسول الله ﷺ ته د سلام ..... ۷۷
۳۷. د خرما د وچي وني ژړا ..................... ۷۸
۳۸. د نبوي دریځ ښورېدل ...................... ۷۹
۳۹. و رسول الله ﷺ ته د اوښ سجده ........... ۷۹
۴۰. الهي ساتنه ................................ ۸۲
۴۱. د رسول الله ﷺ وړاندویني .................. ۸۵
۴۲. د جګړې په اړه پېشګویي .................... ۸٦
۴۳. تر قیامت وړاندي شپږ پېښي ................. ۸۷
۴۴. مذهب به اوړ سی ........................... ۸۸
۴۵. مېرمن به د مېړه سره تجارت کوي ........... ۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۶. سپک خلک به د قومي مشرانو په نامه ...... ۸۹
۴۷. نبوي سنت به دا ړیکو پر بنسټ وي.......... ۸۹
۴۸. د پسونو خرڅوونکي به دنګي ودانۍ......... ۹۰
۴۹. شراب او رشوت ته به ځانګړی نوم .......... ۹۰
۵۰. یاجوج او ماجوج به راسي................ ۹۱
۵۱. یو سپېڅلی انسان به بربادۍ ته د پای...... ۹۳
۵۲. د دجال په نامه به یوه لویه فتنه څرګنده.... ۹۴
۵۳. د یو بې ساري حیوان راتلل.............. ۱۰۰
۵۴. پر درسته نړۍ د لوګي راتلل.............. ۱۰۲
۵۵. لمر به له لوېدیځ څخه راوخېژي............ ۱۰۳
۵۶. مځکه په وښویېږي....................... ۱۰۴
۵۷. په وروستۍ زمانه کي به حیوانان.......... ۱۰۴
۵۸. په وروستۍ زمانه کي به اور رامنځته........ ۱۰۵
۵۹. آیا معجزې همدومره دي................. ۱۰۹
۶۰. د علامه رشاد خپر ندویه تولني چاپ ....... ۱۱۱

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

نَحمَدُهُ وَنُصَلی وَنُسَلمُ عَلی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمْ وَعَلی آلِهِ وَاَصْحَابِهِ حُماةِ الدِیْنِ الْمَتِیْنْ وَعَلی کُل مَنْ تَابَعَهُمْ اِلی یَوْمِ الدِیْنْ.

وبعــد !

د هغه څښتن تعالی په سپېڅلي نامه، چي د تیارې شپې څخه د سپین سباوون سپیني ځلاوي برسېره کوي، هغه سباوون چي لوی څښتن پکښي د ماتمونو او سوکالیو کوربه توب له ازله ایښی دئ. همدا سباوون دئ چي له شپې سره سیالي کوي، ځیني زړونه پکښي خاندي، ځیني ناځي، خو ځیني بیا د ماتم پر تور تغر دومره بې حاله وي چي په بېله نړۍ کي ګرځي. دا د شپو او ورځو یوازینۍ دنده نه ده، بلکي په همدې پړاو کي دواړه راښکېل دي، منځنی تکی په دواړو کي بریښي. همدا شپه او ورځ دي چي د هغه کهکشان څېره د عقیدې سترګو ته ښیي چي بیا تل خلاصون ترې نسته، رښتیني نېکمرغی او بدمرغی هم هلته دي. کله شپه او کله ورځ په لالهانده نړۍ کي انساني غړو ته د رښتیني نېکمرغۍ د لاسته راوړلو جوګه توب ورکوي. کله بیا فکر په دې نړۍ کي تم کړي هغه شېبې ور په زړه کوي کومي چي د ودانۍ او ورانۍ دي. انسان د خپل مریي په څېر کله هسکو غرونو ته خېژوي کله یې بیا د ژورو ګاهانو په تل کي بې هوښه غورځوي.

هوکی! دا یوازی د څښتن تعالی جلاله دوه استازي دي. که یې هول ... شمېره استازي، انسان ... فکر خپلي څېړنیزي کتګوری ته راوبي بو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فنا به په ډېره چابکۍ سره انساني فکر پخپلو موټو ووهي او روح به یې له بدنه بېل کړي، تش کالبوت به پاته سي.

د څښتن تعالی ﷻ ګلورین رحمت دي پر ویاړمن بشر وي، چي ټوله بشریت یې په دې نړۍ کي دروهي (روحي) دوږخ او په راتلونکي عالم کي یې د عملي دوزخ څخه وژغورل، نه یوازي چي نړیوال یې د توري او تجربې په مټ قانع کړه، بلکي انسان ته یې په فکري، روحي، محیطي او داسي نورو ډګرونو کي رښتینی داډ ور په برخه کړ. د دې ویاړ څخه تش هغه کسان بې برخي سول چي د زړونو پلازونه یې له رخې او کینې څخه ډک کړي وو، ازادي یې نه درلوده، چي د ځان په اړه پرېکړه وکړي، بلکي تر فکري استعمار لاندي راغلي وو.

هوکي! همدا د څښتن تعالی ﷻ پر بشریت باندي د خپلي لوروني له دریاب څخه د یو څو څاڅکو اورول وو.

اوس که د معاصري نړۍ بشپړه بشپړتیا له آنده تېره کړو د شک پرته دې پایلي ته رسېږو، چي د عقېدې رښتینولي د خلګو په منځو کي د یوې معما بڼه ځانته غوره کړېده، دا ځکه چي د رښتني عقېدې څښتنان لاس تر زني ناست دي په هره ځانګه کي چي مادي شته تر سترګو کړي د مین په څېر وردانګي، مقابل لوری مو په دې توانېدلی دئ، چي زموږ په علم، کلتور، دود، ازادي او داسي نورو کي په دلاوره زړه لاس وهنه وکړي. په ورته ډول د دې جوګه سوی دئ چي پر فکرونو مو داسي توره پرده وغوړوي، چي حق راته باطل او باطل راته حق ښکاره کړي د ساري په ډول که د علم ځانګه را واخلو پخپله خوښه مو علم و مذهبي او عصري ته ویشلی دئ، حال دا چي پوهه دوې برخي او ټولنه مذهبي او عصري پوهان نه سي قبلولای بلکي ساینسي پوهه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي پوهي ځخه زېږي او ساينسي پوهه مو د مذهب ثبوت کوي. لنډه داچي هر څومره چي پر ورېغيږو بيا به هم لږ وي خو داچي که د رښتيني عقيدې څښتنان لاس تر زني نه کښيني او د خپلي لاري مله له لاسه ورنه کړي نو په کار ده، چي د عقيدوي دفاع په هره زاويه کي د وس تر بريده کار وکړي، بلکي په کار ده چي د دفاع تر کرښو يې تېره معارضوي بڼه ورکړي.

د دفاع لپاره ډيري لاري ستة خواړونده يې يوه ځانګه دا هم کېداې سي، چي خلګو ته هغه نبوي ثبوتونه تر نظر تېر سي کوم چي حضرت محمد ﷺ پخپله زمانه کي خلک په قانع کړي دي، چي يوه برخه يې د معجزو ځخه عبارت ده چي يو په بل پسې به يې تر بحث لاندي ونيسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معجزه څه ته وايي؟

معجزه هغه کړني ته ويل کېږي، چې د پيغمبرۍ د دعوه کوونکي له لوري څخه د عادت خلاف کار څرګند سي او د هغه کړني کول نور خلک عاجز کړي تر څو خلک وپوهېږي، چې نوموړې کړنه دالله ﷻ د نبي پرته بل څوک نه سي تر سره کولای، الله ﷻ و ډېرو انبياوو ته معجزې ورکړي دي، ځکه الله ﷻ فرمايي:

لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِٱلْبَيِّنَـٰتِ(۱)

ژباړه : بېشکه موږ رسولان (نبيان ، استازي) د ښکاره نښو (معجزو) سره لېږلي دي.

لکه چي ومو ويل: معجزه د عادت خلاف يوه کړنه ده، د عادت خلاف کړني دوه ډوله کېدای سي، يوه دا چي داسي کړنه تر سره سي چي په مشاهدت يې څوک نه سي ښودلای خو امکان يې وي، دوهمه دا چي داسي کړنه تر سره سي چي په مشاهدت هم ښودل کېدای سي خو تر يوه بريده ګران کار وي، د مثال په ډول ويلای سو: که ستاسو په کوڅه کي يوه وچه ونه ولاړه وي د څو کالو په بهير کي يې پاڼي نه وي کړي. يو موثق کس (باوري څوک)، چي خبره يې د باور وړ وي تاسو ته ووايي چي د کوڅې ونې شنې پاڼي پيدا کړي دي. څرګنده ده چي تاسو به

---

(۱) سورة الحديد، الاية – ۲۵. وسميت معجزة لأن البشر يعجزون عن الأتيان بمثلها، تفسير قرطبي ج : ۱ ص : ٦٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعجب وکړئ او دا به ډېر ګران کار درته ښکاره سي او که تاسو ته همهغه کس ووايي چي د کوڅې وچي وني نن د يو چا سره خبري کولې. تاسو به دا خبره د شک پرته درواغ وبولئ. د نوموړي کس لومړۍ وينا د يو ګران، ممکن او مشاهدوي کار لپاره مثال سو او دوهمه وينا يې د يوې ممکني غير مشاهدوي کړني لپاره مثال سو، خو پاته دي نه وي چي مشاهدوي او غير مشاهدوي مو په دې اعتبار وره وويل، چي د فطرتي توان پرته يې څوک په مشاهدت نه سي ښودلای.

په پورته مثال کي مو د عادت خلاف کړنه وپېژندل په همدې ډول الله ﷻ خپل استازي د داسي ېښنو چوګه کړي، چي ښخي عقلي شوتتيا څخه دباندي وي يا په بل عبارت خلک چي يې په سترګو نه ويني په ډېره چابکۍ به د دروا غو پرېکړه پرې وکړي. پاته دي نه وي چي دغسي کړني يوازي د کوم خاص پيغمبر څخه نه دي څرګندي سوي، بلکي د زيات شمېر انبياوو څخه څرګندي سوي دي، د مثال په ډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځينو انبياوو عليهم السلام معجزې

الله جل جلاله و موسى عليه السلام ته د مار معجزه ورکړې وه، کله چي به يې خپله لکړه وغورځوله د هغې لکړي څخه به لوي اپي مار جوړ سو او و همدې معجزې ته د فرعون ټول ساحران عاجزه سول او پدې پوه سول چې دا سحر نه دئ بلکي معجزه ده، لکه چي الله جل جلاله فرمايي:

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ (١)

ژباړه: نو لکړه يې وغورځوله بيا ناڅاپه لوی ښکاره مار ترې جوړ سو.

همدا ډول الله جل جلاله و عيسي عليه السلام ته د مړو د ژوندي کېدو معجزه ورکړې وه، لکه چي الله جل جلاله فرمايي:

أَنِّي قَدْ جِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ (٢) .

ژباړه : زه و تاسو ته يوه معجزه ستاسو د (پالونکي) له لوري راوړم، زه و تاسو ته د مرغه په څېر يو شی جوړوم بيا پکښې پو کوم نو د الله جل جلاله په امر به (ژوندی) مرغه سي.

الله جل جلاله وابراهيم عليه السلام ته اور يخ ورګرځاوه، کله چي نمرود د ده لپاره ډېر زيات زورور اور تيار کړی و. لکه چي الله جل جلاله فرمايي:

---

(١) سورة الاعراف الاية (١٠٧).

(٢) سورة آل عمران الاية (٤٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



قُلْنَا يَـٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَـٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ [۱]

ژباړه: موږ ورته وويل: اې اوره! پر ابراهيم ﷻ باندې يخ او جنت سه.

په همدې ډول کله چې د صالح ؑ قوم له ده څخه د معجزې غوښتنه وکړه صالح ؑ د الله ﷻ په امر سره د غره څخه اوښه را وايستل لکه چې الله ﷻ فرمايي:

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَـٰلِحًا ۗ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَـٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ [۲]

ژباړه: و ثموديانو ته مو د دوی ورور صالح ؑ په پيغمبرۍ ورولېږی ده ورته وويل اې قومه! د الله ﷻ عبادت وکړئ ستاسو لپاره د الله ﷻ پرته بل خدای نسته تاسو ته ستاسو د (پالونکي) له لوري څخه معجزه راغله دغه ستاسو لپاره د الله ﷻ اوښه ده.

و داود ؑ ته الله ﷻ اوسپنه په لاس کي داسي نرمه کړې وه لکه موم ځکه الله ﷻ فرمايي: وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ ﴿١٠﴾

ژباړه: موږ و داود ؑ ته اوسپنه نرمه کړې وه.

و سليمان ؑ ته الله ﷻ بادونه او پېرانان تابع ګرځولي وه، ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَلِسُلَيْمَـٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَأَسَلْنَا لَهُۥ عَيْنَ

---

[۱] سورة الانبياء الاية (٦٩).

[۲] سورة الاعراف، الايه (٧٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ٱلْقِطْرِ ۖ وَمِنَ ٱلْجِنِّ مَن يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ[1]

ژباړه : و سلیمان علیه السلام ته بادونه تابع وه، سهار یې د یوې میاشتې، ماښام یې د یوې میاشتې مزل کاوه او د قطر چینه مو ورته بهېولې وه او ځینو له پېرانانو څخه د ده په مخ کې د الله جل جلاله په امر کار کاوه.

همدا ډول الله جل جلاله و نورو پیغمبرانو ته هم معجزې ورکړې وې، لکه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم معجزې چې وروسته به مفصل ډول راسي او داسي نور.

په هر صورت دا ټولي داسي کړني دي چې د انساني توان څخه دباندي دي.

د یادوني وړ ده، چې پورته مو د لږ اشارې په کولو سره څرګنده کړه چې معجزه د عجز څخه اخیستل سوې ده، عجز د عربي ژبي څخه په ناتوانۍ ژباړل کېږي او دلته مو خه ځني د انسانانو ناتوانه کول دي دا چې د دې ناتوانۍ څخه مو خه څه ده؟ په جواب کې ویلای سو :

---

[1] سورة سبا الاية (١٢).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د معجزې مقصد

څرګنده ده چې معجزه يو منطقي دليل نه دئ لکه چې په ښکاره موضوعاتو کې چې استعماليږي، د مثال په ډول څوک ستاسو څخه وپوښتي چې کعبه ولي کعبه بولي؟ تاسو په جواب کې ورته ووايياست: کعبې ته له دې امله کعبه وايي چې پر مکعب شکل باندي جوړه ده او مکعب شکل د هندسي فن له آنده هغه شکل ته ويل کيږي، چې څلور ګوټيزه او متساوي الاضلاع وي دا چې کعبه هم په دې بڼه جوړه ده ځکه ورته کعبه وايي.

دا يو منطقي دليل سو، خو معجزه له داسي دليل څخه بيله ده، بلکي معجزه د يو کس د رسالت پر ربښتينولۍ باندي دليل دئ البته يو مشاهدوي دليل دئ او د دې دليل لامل دا دئ چې عقيده طبعاً له غيبو او پټو شيانو سره اړه لري د هر دين پلټنه چې وکړئ د هغه دين پيروان خامخا داسي عقيدې لري او د داسي شيانو پر راتلو باندي باور لري، چې په سترګو نه ليدل کيږي، لکه مسلمانان چې د جنت، دوزخ او داسي نورو شيانو د راتګ عقيدې لري دا ټوله په دې معنی دي چې يو داسي واکمن سته چې غيب شيان پالي او د شتو تر بريده يې رسوي نو کوم څوک چې داسي کړنه تر سره کړي چې د انساني توان له دائرې دباندي وي يقيني خبره ده چې د داسي چا تړاو به د هغه واکمن سره وي چې د عقيدوي او غيبي شيانو څښتن دئ او دغه کس پخپل رسالت کي ربښتين دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره دا ده چي د نړۍ د اديانو متخصصين وايي: د ټولو عقيدو څښتنان په دې آند دي، چي رښتيني مذهب يو دئ هغه واکمن يو يا سره هم نظره او کلک تړاو لرونکي دي چي د غيبو شيانو واک يې په توان کي دئ نور ټوله دينونه باطل دي، خو په دې ځای کي لاره پېچل سوې ده، چي رښيتنی دين له باطلو دينونو څخه څنګه توپير سي هر چا د خپل وس سره سمي هڅي کړي دي چي پخپل فکر رښتينی دين انتخاب کړي. له نېکه مرغه موږ مسلمانان ټوله په دې عقيده يو، چي رښتيني دين اسلام دئ يا تر اسلام وړاندي هغه دينونه دي کوم چي قرآن ښودلي دي ځکه چي مشاهدوي دليل لري هغه دليل چي د څښتن تعالی ﷻ پرته يې له چا سره توان نسته، بلکي هره معجزه و بشريت ته يو خبر دئ چي تاسو که اسلام دين حق نه بولئ نو ستاسو لاره خلاصه ده تاسو هم داسي کړنه تر سره کړئ، تر اوسه هيڅوک پدې نه دئ بريالی سوی چي د معجزې په څېر دليل وړاندي کړي لکه وروسته چي به راسي. البته ځيني شيان سته چي په ښکاره د معجزې سره ورته والی لري لکه په روا شيانو کي کرامت او په ناروا شيانو کي سحر، خو په حقيقت کي هر يو د معجزې سره زيات توپير لري چي يو په بل پسې به يې تربحث لاندي ونيسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرامت

د ولي الله (د الله ﷻ دوست) و هغه کړني ته کرامت ویل کېږي، چي د عادت خلاف وي، البته د ده بې ارادې تر سره سي او هم دا یې د معجزې سره توپیر دئ چي معجزه د نبي په اراده او د خلکو په غوښتنه سره تر سره کېږي او کرامت د ولي بېله ارادې تر سره کېږي.

# سحر او جادو

سحر د شرعي اصطلاح له مخي په هغه شي پوري خاص کړل سوی دئ چي سبب یې څرګند نه وي او د حقیقت پر خلاف یوازي یوه ذهني لومه وي[۱].

د لا روښانتیا په موخه ویلای سو، چي سحري کړنه د سحر کوونکي له خوا د خلګو د سترګو غلطول دي په حقیقت کي هیڅ شتون نه لري د ساري په ډول په ځینو ځایونو کي لیدل کېږي یو څوک جماد (وچ) شی په نبات (شنه) شي اړوي لکه: چي د یوه لرګي څخه لوند نیالګی جوړ کړي. داسي کړنه د شریعت له مخي جرم دئ، الهي کوم پیغام پکښې نسته بلکي د یوه کسب په مټ هر څوک دغه کړنه تر سره کولای او زموږ د سپېڅلي اسلام له پلوه د سحر کوونکي لپاره د سختو عذابو ژمني

---

[۱] السحر فی عرف الشرع مختص لکل امر یخفی سببه ویتخیل علی غیر حقیقته. تفسیر کبیر ج:۱ ص: ۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي دي او د کبیره (لویو) ګناهونو په ډله کي شمېرل سوی دئ، عقیده ورته ساتل کفر بلل سوې ده بل لا دا چي سحر کوونکي ته پر اسلام پاتېدل ناشوني دي ځکه الله ﷻ فرمایی:

وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ...[1].

ژباړه: سلیمان ﷺ کفر نه دئ کړی مګر شیطانانو کفر وکړ خلګو ته یې سحر وربښودی.

د پورتني آیات څخه په څرګند ډول معلومېږی، چي الله ﷻ د سحر څخه په کفر تعبیر کړی دئ.

د دې ناوړه عمل په اړه بجالة ؓ د رسول الله ﷺ څخه روایت کوی: د سحرکونکي سزا دا ده چی سر یې په توره ووهل سي[2].

حضرت بجالة ؓ فرمایي: موږ ته د حضرت عمر ؓ تر مړیني یو کال وړاندی د عمر ؓ له خوا یو لیک راغلی په لیک کي حضرت عمر ؓ لیکلي وه: هر سحر کوونکی نارینه او ښځه ووژنئ[3].

د حضرت ابو موسی اشعري ؓ څخه روایت دئ، چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: درې کسان الله ﷻ جنت ته نه پرېږدي: لومړی - شراب څښونکی. دوهم: د وصیلې پرېکوونکی او دریم: د سحر تصدیق کوونکی[4].

---

[1] سورة البقرة الآية (۱۰۲)

[2] رواه الترمذی، وقال الصحيح انه من قول جندب آه. زواجر.

[3] رواه البخاری

[4] رواه الامام احمد فی مسنده، وابن حبان فی صحيحه وابويعلی والحاكم وصححه، وقال المنذری فی الترهيب من شرب الخمر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر او معجزې توپیر

سحر یو ناروا کار دئ او معجزه د یوه سپېڅلي کس څخه د یوه سپېڅلي کار د ځرګندولو څخه عبارت ده که څه هم د معجزې او سحر تر منځ توپیر د پورتنیو خبرو په نظر کې نیولو سره ډېر ځرګند دئ خو بیا هم د لا سپیناوي په موخه یې ځیني توپیرونه تر بحث لاندي نیسو، چې د لاندنیو توپیرونو څخه عبارت دي:

۱. معجزه د هغه چا له لاسه ځرګندېږي، چې د نبوت دعوه کوونکی او رښتینی او ټاکلی انسان وي او سحر د هر چا له لاسه منځته راتلای سي.

۲. سحر پرته له دې چې د کتونکو لپاره لنډ مهالی غولونکی دئ په حقیقت کې هیڅ نسته او معجزه یو حقیقي شی ده، چې په حقیقت کې هم شتون لري لکه د صالح علیه السلام اوښه چې تر یوه وخته پوري یې و مسلمانانو ته د خوراک لپاره شیدې ورکولې[1].

۳. سحر چا ته کوم تاوان نه سي رسولای او د معجزې په مټ د الله جل جلاله په امر سره خلک په یقیني ډول هلاکېدای سي، لکه چې الله جل جلاله یې په قرآنکریم کې یادونه کړې ده[2].

۴. معجزه تل پر سحر باندي برلاسې وي او سحر د معجزې په

---

(۱) طبری – التفسیر ۲۴ / ۴۵۸.

(۲) مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ

سورة بقرة، الاية (۱۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې تېيټ راځي لکه د موسی عليه السلام په کيسه چې کله موسی عليه السلام لکړه وغورځوله. د ساحرانو ټوله سحر يې په وړاندې مات سو او ساحران پوه سول، چې د موسی عليه السلام کړنه سحر نه بلکې يوه معجزه ده، ځکه زموږ يو داسې توانا سحر يې په وړاندې مات سو، چې موږ يې له ډېره وخته تابيه نيولې وه[1].

د پورتنيو توپيرونو ترڅنګ سحر له معجزې سره نور توپيرونه هم لري چې سالم فطرة يې له ورايه پيژندلای سي.

---

(1) وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرۡعَوۡنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٖ ﴿١١٦﴾ ۞ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ سورة الاعراف ۱۱۳ – ۱۲۰ آيتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د معجزې ډولونه

څرنګه چي معجزه یوه داسي کړنه ده، چي تر انساني توان او ساینسي وړتیا دباندي ده خو پخپل ځان کي څلور ډولونه لري چي د لاندنیو ډولو څخه عبارت دي :

لومړی : د معجزې کړنه د عادت خلاف وي هیڅ یوه برخه یې د عادت سره سمون نه خوري لکه د لکړي څخه د مار جوړېدل ، د سپوږمۍ دوه ځایه کېدل، د اسمان څخه رالوېدل او داسي نور.

دوهم : معجزه یوه داسي کړنه وي، چي د عادت خلاف خو نه وي مګر په ټاکلي او مخصوص وخت کي یې راتلل د عادت خلاف وي لکه د طوفان راتلل، زلزلې کېدل او داسي نور.

دریم : معجزه یوه داسي کړنه وي، چي د عادت خلاف نه وي او نه یې په ټاکلي وخت کي راتګ د عادت خلاف وي خو د څرګندېدو لاره یې د عادت خلاف وي لکه د پیغمبرانو په دعا د باران اورېدل، د ناروغ جوړېدل او داسي نور.

څلورم : معجزه یوه داسي کړنه وي، چي د عادت خلاف نه وي او نه یې د څرګندېدو لاره د عادت خلاف وي مګر د دغه کړني په راتګ وړاندي پوهه یې د عادت خلاف وي لکه د نبي ﷺ وړاندوینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت محمد ﷺ معجزې

لکه مخکې چې مو وویل الله ﷻ په هره زمانه کې خپلو پیغمبرانو ته داسې معجزې ورکړې دي، چې د الهي دین نه منونکي به ترې عاجزه وه لکه چې د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کې چې سحر او جادوګري ډېره مخ په وړاندې وه د هغې زمانې د خلګو په آند د درنښت وړ انسان هغه څوک و، چې د سحر په ناروا لاره کې به یې ډېره برلاسی درلوده الله ﷻ و موسی علیه السلام ته داسې معجزه ورکړه، چې د دوی ټول سحر او جادو یې په وړاندې مات و. د حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کې طب پوهنه ډېره مخ په وړاندې وه تر داسې بریده چې د هغې زمانې خلګو د هرې ناروغۍ لپاره درمل پیدا کړي وه یوازې یې د مورزاده ړانده، مړي ژوندي کېدل او پس ناروغۍ درملنه نه سوای کولای الله ﷻ و عیسی علیه السلام ته د دغه درو واړو درملنه د معجزې په بڼه ورکړه، چې ټول نه منونکي یې په وړاندې ناتوانه سول.

تر ټولو په وروستۍ زمانه کې الله ﷻ حضرت محمد ﷺ په پیغمبرۍ ولېږی په دغه زمانه کې ګوم درس ځای نه و، یعني نه داسې مدرسه او نه مکتب و چې په مټ یې خلګو علوم او فنون زده کړي وای او د دغه ځای څخه دې خلګو ته علمي، ادبي او هنري افکار رسېدلي وای. یوازې د شعر خطابي او بیاني فن و، چې په خلګو کې یې طبعاً دود موندلی و او خلګو زیاته پاملرنه هم ورته کوله که څه هم زیات خطیبان او شاعران یې د لیک او لوست څخه هم بې برخې وه، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


زيات تمرين په مټ يې لوړ، لوړ مقامونه گټلي وو آن تر دې چې د هغې زمانې شعرونه تر اوسه پورې د عربي ادب يوه برخه ده. د دوی د اشعارو د ودې يو لامل دا هم کېدای سي، چې مرکزي عربستان د تجارت مرکز و، د زياتو سيمو څخه خلک ورته راتلل په ځانگړې ډول د حج د اداء کولو په وخت کې به تجارتي کاروانونو د مکې و لورې ته مخه کړه، زيات خلک به سره يو ځای کېدل په همدې وجه مکه د ادبي مشاعرو مرکز هم بلل کېده، د هرې سيمې خلکو زيار ايستی چې يو شعر راوړي او د خلکو د مجموعې په وړاندې يې ووايي او ځان ته د خپل شعر معيار معلوم کړي. د دې سره به ځينو خلکو خپلې بوللي (قصيدې) د مکې په خونه کې ځړولې چې ښه بېلگه يې د اسلام د څرگندتيا پر مهال د هغه قصيدو څخه عبارت ده، چې په مکه کې ځړېدلې اوه قصيدې وې چې د معلقات سبعه په نامه يادېدلې.

د دوی په اند شعر او شاعري وياړ و، دوی به د خپلو شاعرانو زيات درنښت کاوه او د خپل قوم د برترۍ لپاره به يې د خپلو شاعرانو نومونه يادول او د شاعرانو لرل به يې د خپل قوم د عزت په موخه سند گرځاوه. مگر د خپلو کوچنيانو ښووني او روزني ته يې هيڅ پاملرنه نه کوله، همدا لامل و چې د مکې او حجاز د سيمو زيات خلک په ليک او لوست نه پوهېدل.

د يادوني وړ ده، چې په هغه وخت کې درې علوم و عربو ته په ميراثي ډول پاته ول لومړی دا چې دوی به د ستورو پېژندنه کول او په مټ به يې ځان ته د باران د اورېدلو وخت معلوماوه، دوهم دا چې پل زني به يې زده کول او دوی په دې کار کې زيات مهارت هم درلودی، دريم دا چې د نسبونو زده کړه به يې کول او په دې لاره کې يې هم زياتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅي کولې او د دې فن په یادولو کې یې هیڅ ډول زیار نه سپماوه[1].

په همدغه وخت کې څښتن تعالی ﷻ حضرت محمد ﷺ د بشریت خپل استازی ولېږی داسې استازی و، چې په بشریت کې تر ټولو غوره انسان و تر داسې بریده چې په غوره والي کې یې ساری نه لري، د ده په راتګ سره تر ټولو وړاندې د ده خپل قوم د مخالفت سخت عکس العمل وښودی، الله ﷻ د ده د رښتینولۍ په موخه زیاتې معجزې ورکړې، چې ځینې یې د ده تر زمانې پورې خاص وې او یوه څرګنده معجزه یې تر اوسه پورې لا ستها او تر قیامته پورې به هم وي چې د قرآني معجزې څخه عبارت ده، دا یوه لویه او څرګنده معجزه ده چې تفصیل یې په لاندې ډول دئ:

---

(۱) وَلَكِنَّ الْقَذْفَ بِالنُّجُومِ قَدْ كَانَ قَدِيمًا، وَذَلِكَ مَوْجُودٌ فِي أَشْعَارِ الْقُدَمَاءِ مِنَ الْجَاهِلِيَّة ... الروض لانف ج: ۱ ص : ۳۵۴ فصل في الکهانة، انساب الاشراف ج : ۳ ص : ۱۹۸، عشائر العراق ج: ۱ ص : ۳۷، احوال القبائل، سبل الهدی والرشاد، ج : ۱ ص : ۱۳٤، الروض الانف، ج: ۱ ص : ۱۷۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قرآن کریم
# یوه څرګنده معجزه ده

څرګنده ده، چي رسول الله ﷺ د ماشوتوب څخه کومه زده کړه نه وه کړې او نه په قریشو کي د لیک او لوست زده کړه دود وه لکه مخکي چي مو اشاره ورته وکړه، نه د مکې قریشو د رسول الله ﷺ څخه شعر یا ادبي ټوټې اوریدلي وي. څه وخت چي نوموړی په رسالت سره وویاړل سو نو قریشو ته یې د الله ﷻ سپېڅلی کلام قرآنکریم واوروی، داسي کلام چي د ادبي قانون له مخي هیڅ ډول نیمګړتیا نه پکښې تر سترګو کېده بلکي هیڅا د داسي کلام په څېر ادبي وینا نه سوای کولای په پایله کي ټول خلک ورته عاجزه سول، هر څومره چي یې لاس او پښې ښورول هڅو یې هیڅ ګټه نه کول پرته له دې چي و دې کلام ته دناتوانۍ سرونه ټیټ کړي نه یوازي چي د ټوله قرآن په څېر دوی یوه مفصله وینا نه سوای کولای بلکي د قرانکریم د یوه کوچني سورت په څېر یې هم یوه وینا نه سوای کولای. سربېره پر دې که د ټوله بشریت ادیبان سره یوځای سي بیا هم د دې جوګه نه دي، چي څوک دي پکښې یو سورت جوړ کړي، ځکه الله ﷻ د دغي خبري د ثبوت او سپیناوي په موخه ټولو انسانانو ته خبر ورکړی دئ او فرمایلي یې دي:

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾ [1]

ژباړه : که چيري تاسي په شک کي ياست د هغه (قرآن) څخه چي موږ پر خپل بنده باندي نازل کړی دئ نو راوړئ يو سورة د دې قران په څېر او هغه خپل مرستيلان د الله ﷻ پرته وبولئ (ونګوئ) که رښتيا ويونکي ياست.

الله ﷻ شاوخوا څوارلس سوه کاله وړاندي ټولو انسانانو ته خبر ورکړی دئ او ويلي يې دي: که تاسو شک لرئ چي قرآن د الله ﷻ کلام نه دئ او واياست چي دا کتاب رسول الله ﷺ د ځانه جوړ کړی دئ، نو رسول الله ﷺ خو يو انسان و تاسو هم انسانان ياست ونيسئ تاسو هم دا کار وکړئ. تر اوسه پوري هيڅوک نه دئ توانېدلی چي د دې قران په څېر يو کوچنی سورة جوړ کړي.

په بل ځای کي الله ﷻ فرمايي: يوازي انسان نه بلکي که پيرانان هم ورسره په مرسته کي مله سي هم دا کار نه سي کولای ځکه قرآن د الله ﷻ کلام دئ د الله ﷻ کړنه د ده پرته بل څوک نه سي کولاي الله ﷻ فرمايلي دي:

قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ﴿٨٨﴾ [2]

ژباړه : ووايه (اې محمده ﷺ!) که چيري انسانان او پيرانان سره يو ځای سي چي د دې قران په څېر (يو کتاب) راوړي را به يې نه وړي د دې قرآن په څېر که څه هم ځيني له دوی د ځينو ملاتړ کوونکي

---

[1] سورة بقره – ۲۳ آيت.

[2] سورة الاسراء – ۸۸ آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مرستیالان) هم سي.

د پورتنیو خبرو په نظر کي نیولو سره په ښکاره ډکو کي وښودل سوه چي قرآن یوه داسي معجزه ده، چي تر اوسه پوري پاته او تل به وي نو کوم څوک چي د اسلام په وړاندي شک لري نو د دې معجزې په لیدلو سره یې شک له منځه تلای سي، ځکه که یې څوک معجزه نه بولي نو د دې قرآن په څېر دي یوه وینا وړاندي کړي چي د قرآن کریم سره په فصاحت، بلاغت، اخبار بالغیب او نظم کي ورته والی ولري.

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سپوږمۍ دوه ځایه کېدل

د رسول الله ﷺ یوه بله څرګنده معجزه دا وه، چې د مکې کافرانو وپتېیله چې محمد ﷺ درواغجن ثابت کړي او داسې غوښتنه ترې وکړي چې د بنده له توانه وتلې وي هغه دا چې له اسمانه څخه دې محمد ﷺ سپوږمۍ راکښته کړي که رښتیا هم دغه کار وکړي نو رښتینی پیغمبر دئ او د رسالت په دعوه کې رښتینی دئ او که یې ونه کړي نو د رسالت په دعوه کې درواغجن دئ.

په هر صورت دوی دا کار وکړ د رسول الله ﷺ څخه یې د سپوږمۍ د راکښته کېدو غوښتنه وکړه رسول الله ﷺ د دوی خبره واورېده او د څښتن تعالی ﷻ څخه یې وغوښتل تر څو سپوږمۍ راکښته او د دوی غوښتنه پوره کړي الله ﷻ پخپله لویه توانایي سره دا کار وکړ، په منی نومي ځای کې یې د آسمان له لوري سپوږمۍ راکښته کړه، سپوږمۍ دوه ځایه سوه د مکې او شاوخوا سیمو خلکو دغه کار په وینه او په څرګند ډول ولیدی. البته دغه پېښه د شپې په منځنۍ برخه کې رامنځته سوه او الله ﷻ هم د دې پېښې یادونه په قرآنکریم کې کړې ده[1].

---

(۱) ﴿ٱقْتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلْقَمَرُ ۝١ وَإِن يَرَوْا۟ ءَايَةً يُعْرِضُوا۟ وَيَقُولُوا۟ سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ۝٢ وَكَذَّبُوا۟ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ۝٣﴾ سورة قمر الایات ۱ – ۳. بخاري – الصحیح (فتح الباري ۲۲۴/۷) و رواه مسلم برقم: (۲۸۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس خبره دا ده، چي ايا دغه کار هم شوني دئ؟ يا په بل عبارت په پورتنۍ معجزه کي لاندني دوې پوښتني پيدا کيږي:

لومړۍ پوښتنه: څرنګه چي سپوږمۍ يو سيار ستوری دئ، نو ستوري د فلکياتو د علم له انده په ځان کي ماتوالی مني؟

دوهمه پوښتنه: که دغه پېښه رامنځته سوې وي نو ولي يوازي د دغه خبري پېښليک يوازي مکه وال بيانوي په کار وه، چي د ټولي نړۍ خلګو ليدلې وای او د نړۍ د هر ګوټ څخه تاريخ پوهانو نوموړې پېښه پخپلو ليکنو کي درج کړې وای؟

د لومړۍ پوښتني جواب: تر نولسمي پېړۍ وړاندي د مذهب پوهانو او ساينس پوهانو تر منځ د ستورو ماتوالی او يا نه ماتوالی يوه توده موضوع وه په پايله کي ډېر اوږده بحثونه او مناظرې پر جوړې وي، بلکي د پېړيو، پېړيو څخه دواړو ډلو د خپلو نظرونو د ثبوت لپاره اوږده اوږده کتابونه ليکلي وه. د مذهب پوهانو په ډله کي د نوموړي موضوع ثبوت د عقيده پوهانو دنده وه او په دوی پوري اړه لري د دوی له انده ټول ستوري که سيارات دي که ثوابت دي پخپل منځ کي ماتوالی مني او د ساينس پوهانو له انده دغه کار شوني نه و، بلکي ټول ستوري يو نه جلا کېدونکي او نه څيري کېدونکی شيان ول، خو د دوی دغه اوږدې مناظرې په اوس مهال کي په څرګند ډول بې ګټې ثابتي سوي دي او په ښکاره ډول د مذهب پوهانو په ګټه موضوع ثابته سوې ده، څوک چي لږ مطالعه لري هغه ته ثابته ده، چي ستوري په هر مهال کي کېدلای سي چي ټوټه ټوټه سي او د لا سپيناوي لپاره ويلای سو، چي ټولي نړۍ وليده چي د سپيني روسيې په سيمه کي په شلمه پېړۍ کي د ځينو سيارو ټوټې ولوېدې او دا خبره ثابته سوه چي سيارې ماتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر دا چي دا خبره هم په زړه ورتوب ښه کېدای سي، چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي سپوږمۍ دوه ځای ه سوې ده.

د دوهمي پوښتني جواب : څرنګه چي دغه معجزه په داسي مهال کي رامنځته سوې ده، چي ټول خلګ په خواږه خوب ویده وو ډېر لږ خلګ به داسي وو چي ویښ به وو، نو کوم څوک چي ویښ وو نو هغو د لیک او لوست توان نه درلودی ځکه په هغه زمانه کي لیک او لوست ډېر کم و که چا درلودی هغو به نه وي لیکلي ځکه په هغه وخت کي د تاریخ د ضبط د ارزښت احساس د خلکو سره نه و او نه یې خلک په درنښت پوهېدل یوازي تاریخي پېښي د وینا له مخي په میراثي ډول پاتېدلې.

بله خبره دا ده: هره خبره چي نور څوک یې بیان نه کړي دا د دې ثبوت نه دئ چي دغه موضوع نو دروا غ ده. که د دې ثبوت نسته چي د مکې والو پرته نوري نړۍ په پېښلیکونو کي د سپوږمۍ د لوېدو یادونه نه ده کړې دا په دې معنی نه ده چي د سپوږمۍ لوېدل نه دي رامنځته سوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کافرانو په شوم هدف

# د رسول الله ﷺ پوهاوی

رسول الله ﷺ ته چي الله جل جلاله د هجرت اجازه وکړه، دی مبارک په داسي مهال کي و مدينې ته وکوچېدی چي کافرانو د ده د وژلو پرېکړه کړې وه او ده ته الله جل جلاله د کافرانو د شوم هدف په اړه معلومات ورکړل او د کافرانو د پوره تياري سره دی مبارک روغ رمټ مدينې ته ورسېدی، دا چي دی مبارک د قريشو په شومو هدفونو د الله جل جلاله له لوري خبرېدی دا د رسول الله ﷺ معجزه وه.

د پېښي لنډيز په لاندي ډول دئ:

ټولو اصحابو ته رسول الله ﷺ اجازه ورکړې وه، چي مدينې ته هجرت وکړي قريشو چي د مبارکو اصحابو هجرت وڅاری په دې پوه سول چي اوس نو زموږ لپاره د يوې لويي بلا لاره پرانيستول سوه ځکه که هغوی مهاجر سي نو زموږ د تجارت لويه لاره بندولای سي او هر وخت چي وغواړي د توانايی په پيدا کېدو سره کولای سي چي پر موږ حمله وکړي نو د دې ناورين څخه د وتلو لاره بايد ولټول سي نو له دې امله يې دا غوره وګڼل، چي د قريشو يوه لويه مشوره را وبولي او يوه لاره پيدا کړي هغه و چي د قريشو د مشورې په سرای (دارالندوة) کي د قريشو اووه واړه قومونه سره راټول سول د رسول الله ﷺ څخه د خلاصون په موخه يې ډول، ډول نظرونه وړاندي کړل خو آخر د لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبخت ابوجهل رايه ټولو تصويب کړه، د ده رايه دا وه چي د ټولو قومونو څخه يو، يو نامتو پهلوان دي وګمارل سي، په ښه وسله دي سمبال سي او رسول الله ﷺ دي ووژني کله چي محمد ﷺ ووژل سو نو د ده کورنۍ د دې توانايي نه لري چي د ټولو قومونو سره جګړه وکړي آخر دې ته اړه ده چي ديت واخلي نو موږ ټول قومونه به ديت ورکړو او د تل لپاره به د ده له شره ځانونه خلاص کړو. د دې نظر په وړاندي کولو سره ټول موافق سول او عملاً يې دغه کار پيل کړ او د رسول الله ﷺ د وژني لپاره يې لاندني کسان وټاکل:

۱ : ابوجهل بن هشام

۲ : عقبه بن ابي معيط

۳ : امية بن خلف

۴ : طعيمة بن عدى

۵ : ابي بن خلف

٦ : منبه بن الحجاج

۷ : حکم بن عاص

۸ : نضر بن حارث

۹ : زمعة بن الاسود

۱۰ : ابولهب

۱۱ : بنيه بن الحجاج د منبه بن الحجاج ورور[۱].

له بله پلوه رسول الله ﷺ ته الله ﷻ د کافرانو د شوم هدف په اړه معلومات ورکړل، وحي يې ورته وکړې چي هجرت وکړه قريشو ستا د وژلو لپاره پلان جوړ کړی دئ او تر خپله وسه هڅه کوي چي تا ووژني نو

---

[۱] ابن حجر – فتح الباري ۲۳٦/۷، زاد المعاد ۵۲/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه رسول الله ﷺ د تګ نده غرمې پر مهال د ابوبکر رضي الله عنه کور ته ورغلی ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د دې بې وخته راتګ څخه متحیر سو او پوښتنه یې ترې وکړه، چې زما مور او پلار دې تر تا جار وي څه توي پیښه رامنځته سوې ده؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وویل: چې الله جل جلاله ماته د هجرت کولو اجازه راکړې ده. ابوبکر رضي الله عنه څنې وپوښتل: چې زما سره؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو ! لنډه دا چې پر دې یې پرېکړه وکړه، چې د شپې به په هجرت پیل کوو. رسول الله ﷺ کور ته تشریف یووړ ابوبکر رضي الله عنه یې د شپې د راتګ لاره څاره[1].

قریشو د شپې له پیل څخه د رسول الله ﷺ کور محاصره کړی و او دا یې پتیلې وه، چې کله محمد ﷺ د شپې ویده سي په ناڅاپي ډول به حمله پرې کوي او وژني به یې، پدې نه وه خبر چې محمد ﷺ د معجزو او ربښتینولۍ پیغمبر دئ او د څښتن تعالی جل جلاله توانایي دومره لویه ده، چې د انسان په ناتوان فکر یې لاره نه سي ډب کولای په هر صورت رسول الله ﷺ د شپې راووتی د قریشو لیکي یې وڅارلې بیا یې علي رضي الله عنه ته امر وکړ، چې زما پر بستره باندي ویده سه الله جل جلاله به دي د دوی له شره وژغوري او خپل یو پټو یې هم ورکړ، د دې لپاره چې پر ځان یې واچوي رسول الله ﷺ یو مټ ریګنه خاوره واخیسته د دوی پر لوري یې وغورځول الله ﷺ د دغه خاورو په مټ د دوی سترګي وتړلې رسول الله ﷺ یې هیڅ نه ولیدی. رسول الله ﷺ برابر د ابوبکر رضي الله عنه کور ته ولاړی د هغه ځای څخه دواړه مبارکانو حرکت وکړ، پنځه میله لیري د ثور غره ته وختل په هغه ځای کي یو غار و په هغه غار

---

[1] البخاري –الصحیح (فتح الباري) ۲۳۱/۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتل دلته قریشو دانتظار شیبې تېرولې، یو کس ورته راغلی پوښتنه یې ترې وکړه، چې تاسو څه کوئ؟ قریشو ورته وویل چې موږ د محمد ﷺ د وژني لپاره ناست یو هغه کس ورته وویل: قسم په الله ﷻ چې هغه ولاړی تاسو نه ولیدئ، دوی حیران سول د محمد ﷺ د پروتي ځای ته ورغلل که یې وکتل د رسول الله ﷺ په څېر یو کس پروت دئ دوی پخپلو کي سره وویل چي دا دئ محمد ﷺ پروت دئ بیا ورته منتظر سول کله چي سهار سو حضرت علي ﷺ د هغه ځای څخه را ولاړ سو دوی ترې وپوښتل چي محمد ﷺ څه سو؟ علي ﷺ په جواب کي ورته وویل: زه نه یم خبر. په همدغه مهال دوی پوه سول چي زموږ هڅه ناکامه سوه او پخپل شوم هدف کي بریالي نه سوو[1].

داهم د رسول الله ﷺ معجزوي نخښي وې چي کافرانو د وس تر بریده د ده د له منځه وړلو هڅه وکړه مګر بریالي نه سول.

[1] رحمة للعالمين ۹۵/۱، مختصر السيرة للشيخ عبدالله ص ۱۲۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محمد ﷺ معجزه وه چې

# قریش وچکالۍ وځپل

کله چې د مکې خلګو پر رسول الله ﷺ او اصحابانو ﷺ باندي د وس تر بریده ظلمونه پیل کړل آن تر دې چې ځیني اصحابان مبارکان یې په وحشیانه ډول سره شیهدان کړل او خپله د رسول الله ﷺ د شهادت لپاره یې ډول ډول توطئې ترلې نو رسول الله ﷺ دوی ته سخته ښرا وکړه، چې په پایله کي د رسول الله ﷺ ښرا قبوله سوه او پر دوی باندي تر څو کالو پوري دومره سخته وچکالي راغله چې کله به دوی آسمان ته وکتل آسمان به دوی ته د لوږي پیغام ورکاوه آخر ښخي تنګ سول، نو د مکې والو لوی واکمن ابوسفیان رسول الله ﷺ ته راغلی او ورته وې ویل چې اې محمد ﷺ! ته خپله خلګو ته د وصیلې لارښوونه کوې او خپله دي خپل قوم په معجزانه ډول په وچکالۍ کي اچولی دئ ته د خپل قوم سره وصیله وکړه، دعا وکړه چې څښتن تعالی ﷻ نوره دغه وچکالي له منځه یوسي او منظم اورښتونه رامنځته سي تر څو ستا قوم له لوږي څخه خلاص سي. د ابوسفیان د دغي غوښتني سره سم رسول الله ﷺ د څښتن تعالی ﷻ څخه دعا وغوښته الله ﷻ د ده مبارک دعا قبوله او په پرله پسي ډول یې پر قریشو اورښتونه پیل کړل خو بیا هم مکې والو خپله کرغېړنه څېره بربنډه او مخالفت یې پیل کړ، د دوهم ځل مخالفت په جواب کي رسول الله ﷺ دوی ته ژمنه ورکړه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې مخالفت په بدله کې به تاسو ته ډېر ژر سخت عذاب راسي او همداسې وسوه یعنې د بدر په غزا کې دوی په هغه پیمانه وځپل سول کوم چې رسول الله ﷺ ورسره ژمنه کړې وه[1].

دا هم د رسول الله ﷺ معجزه وه، چې مکه وال یې ټوله ناتوانه کړي وو لکه چې مو ولوستل قریشو بله هیڅ لاره نه درلوده پرته له دې چې د ناتوانۍ سرونه ټیټ کړي او په عاجزۍ سره د رسول الله ﷺ په برکت ځانونه خلاص کړي.

(۱) والثاني : أن قريشاً أصابهم جوع ، فكانوا يرون بينهم وبين السماء دخاناً من الجوع، . . . [هذا] لأن قريشاً لمّا استعصت على النبي صلى الله عليه وسلم دعا عليهم بسنين كسنيِّ يوسف ، فأصابهم قحط وجهد ، حتى أكلوا العظام والميتة ، وجعل الرجلُ ينظُر إلى السماء فيرى ما بينه وبينها كهيئة الدخان من الجهد ، فقالوا {ربَّنا اكشف عنّا العذاب إنّا مؤمنون} ، فقال الله تعالى : {إنّا كاشفو العذابِ قليلاً إنكم عائدون} ، فكشف عنهم، ثم عادوا إلى الكفر ، فأخذوا يومَ بدر ، فذلك قوله : {يومَ نَبْطِشُ البَطْشَةَ الكُبرى} ، وإلى نحو هذا ذهب مجاهد، وأبو العالية ، والضحاك ، وابن السائب ، ومقاتل . زاد المسير — التفسير ٥ \ ٣٤٧ في تفسير سورة دخان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ابو جهل او ملګرو ته

# د رسول الله ﷺ بښرا

د رسول الله ﷺ یوه بله معجزه داوه، چي یوه ورځ رسول الله ﷺ په بیته کي پر لمانځه ولاړ و ابو جهل او د ده ځیني ملګري پر راتهول رسول الله ﷺ ته نژدې ناست وو د رسول الله ﷺ ګلورین عبادت د دې کمبختو لپاره د سر درد و په هره بیه چي رسول الله ﷺ ته تاوان ور رسېدلای دوی نه سپماوه په ځانګړی ډول د عبادت پر مهال باندي خو د فطري توان سره د دوی د موټو زور سیالي نه سوای کولای. دې کرغېړنو خلکو چي رسول الله ﷺ د لمانځه پر مهال ولیدی نور څه یې نه سوای کولای خو دومره یې وکړه، چي ابو جهل و ملګرو ته وویل چي پرون یوه اوښه حلاله سوې ده د دغه اوښي بدبویه رحم (هغه ځای چي د حیوان اولاد پکښې پرورښت کوي او د زیږېدو تر وخته په همدغه ځای کي وي) څوک د محمد ﷺ په اوږو کي ورایښودلای سي؟ د دوی په فکر دا هم یو ډول تاوان و، چي محمد ﷺ ته یې ورسوي. په دوی کي لوی بدبخت عقبه بن معیط د دې کار لپاره تیاری وښودی. دستي ولاړ سو هغه کرغېړن شی یې راوړی کله چي رسول الله ﷺ پر سجده سو، ده خبیث دغه شی په اوږو کي ور کښېښودی د ایښودلو سره سم ابو جهل او ملګرو د پسخند په توګه په خندا پیل وکړ. عبد الله بن مسعود ﷺ فرمایي، چي: زه په دغه ځای کي ولاړ وم زړه مي سره اوښتی خو څه مي په توان نه وو که مي کتل بي بي فاطمة ﷺ چي په دغه وخت کي نجلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه خبره سوه، رسول الله ﷺ ته يې ځان ورساوه او هغه مردار بنی شی يې ترې ليرې کړ بيا يې پر دوی مخ راواړوی پوچ او رد يې ورته ووايل، کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو دوی ته يې ښرا وکړه، الله ﷻ د ده مبارکه ښرا قبوله او دوی يعني ابوجهل او ناست ملګري ډېر ژر د بدر په غزاکي د مردارو په څېر د بدر په څاه کي ولوېدل[۱].

پاته دي نه وي چې رسول الله ﷺ په لمانځه بوخت و، د دوی خندا او ناروا کړني ته يې پام نه سو لامل يې دا و، چې رسول الله ﷺ او د ده ملګرو په داسي بڼه لمونځ کاوه، چې ګويا دوی د لوی څښتن تعالی ﷻ و مخ ته ولاړ دي او ويني يې د لا سپيناوي په موخه د داسي مبارکو هستيو د لمونځو يو څو بېلګي رانقلوم:

مجاهد رحمه الله د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه حال رانقل کړی دئ، چې کله به دوی پر لمانځه ودرېدل داسي به ښکارېدل لکه يو لرګی چې ښخ کړې يعني هيڅ به نه ښورېدل[۲].

علماوو ليکلي دي چې حضرت ابن زبير رضي الله عنه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه څخه لمونځ زده کړی و او ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه لمونځ زده کړی و، يعني په څه ډول چې رسول الله ﷺ لمونځ کاوه په دغه ډول به ابوبکر رضي الله عنه او عبدالله بن زبير رضي الله عنه هم لمونځ کاوه.

ثابت رضي الله عنه وايي چې د عبدالله بن زبير رضي الله عنه لمونځ داسي و لکه يو لرګی چې يو ځای ښخ کړې.

ابن زبير رضي الله عنه به کله دومره اوږده او بې حرکته سجده وکړه، چې مرغان به راغله د ده پرملا به کښېناستل، کله به يې دومره اوږده رکوع

---

[۱] رواه مسلم برقم (۱۷۹۳).

[۲] تاريخ الخلفاء.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چي تموله شپه به تر سهاره په رکوع کي وا و کله به يې دومره اوږده سجده وکړه چي ټوله شپه به تېره سوه.

يوه ورځ حضرت زبير رضي الله عنه د جګړې په ډګر کي لمونځ کاوه، نو يو غشي د مسجد پر دېواله ولګېدی چي د مسجد د دېوال يوه ټوټه يې والوزوله او دغه ټوټه د حضرت زبير رضي الله عنه د ستوني او ږيري تر منځ تېره سوه خو ده هيڅ فکر نه وکړ، نه وار خطا سو، نه يې رکوع او سجده لنډه کړه.

. يوه ورځ يې لمونځ کاوه د ده زوی چي هاشم نومېده د ده وخنګ ته بيده و د بام څخه يو مار راولوېدی او د ده پر زوی باندي راتاو سو زوی يې چيغي کړې د کور خلګ ټوله په چابکي سره راغلل شور ماشور جوړ سو هغه مار يې مړ کړ، ابن زبير رضي الله عنهما په هغه ډول سره په ښه ارامتيا سره لمونځ کاوه، کله چي يې سلام وګرځاوه نو وې ويل چي يو څه شور او ږغ مي تر غوږ سو څه شي و؟ بي بي يې ورته وويل چي الله جل جلاله دي پر تا رحم وکړي اوس دي بيا زوی مړ وای ته په خبر هم نه يې؟ ده مبارک ورته وويل: ورکه سې که په لمانځه کي مي بلي خوا ته توجه او فکر کولای نو لمونځ به چيري پاته سوی وای[1].

حضرت عمر رضي الله عنه چي په آخر وخت کي په خنجرونو ووهل سو او د دغه زخمو څخه بيا شهيد سو، هر وخت به وينه ترې بهېدله او زيات وخت به بې هوښه و خو بيا هم د لمانځه لپاره بيداره کېدی لمونځ به يې کاوه دا به يې ويل چي د هغه چا لپاره په اسلام کي هيڅ حصه نسته چي لمونځ پرېږدي.

حضرت عثمان رضي الله عنه به ټوله شپه ويښ وا و په يوه رکعت کښي به

---

[1] بدايه وغيره. ذکره مولانا محمد زکريا رحمه الله في حکايات الصحابه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ټوله قرآنکريم ختماوه.

د حضرت علي (کرم الله وجهه) مبارک عادت داسي و، چي کله به د لمانځه وخت راغلی نو پر بدن به يې رپېدل راغله او مخ به يې ژړ سو. يو چا پوښتنه ترې وکړه، چي دا څه خبره ده چي د لمانځه د وخت په راتګ سره دي مخ ژړ سي او بدن دي رپېږي؟ ده مبارک ورته وويل: دا د هغه امانت وخت دئ چي الله ﷺ پر اسمانونو، مځکه او غرونو باندي نازل کړ دوی يې د پورته کېدو څخه ناتوان سول خو انسان پورته کړ.

د حضرت خلف بن ايوب رحمة الله عليه څخه يو چا پوښتنه وکړه، چي تا په لمانځه کي مچان نه تنګوي؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل، چي مجرم حکومت په درو وهي دی بې غږه نه کوي دا تکليفونه پر ځان تېروي خو په دې فخر کوي چي زه د حکومت په هر ډول وهلو کي نه ښورم، يعني چي زه خو څومره ټينګ يم زه چي د خپل رب جل جلاله و حضور ته ولاړ يم زه د يوه مچ له امله وښورېږم.

مسلم بن يسار رضي الله عنه چي به کله د لمانځه لپاره ودرېدی نو د خپل کور خلکو ته به يې وويل، چي تاسي ما ته خبري کوی زه ستاسو په خبرو نه پوهېږم. يوه ورځ ده مبارک د بصرې په جامع کي لمونځ کاوه چي د مسجد يوه برخه راچپه سوه، خلکو يې له امله وځغستل د باندي سره يو ځای سول شور او غوغا سوه خو دی هيڅ په خبر نه سو[1].

دا هم د سپېڅلو انسانانو د لمونځ کولو يو څو بېلګې وې که د دوی د لمونځو حالت ته وکتل سي نو په څرګند ډول د رسول الله ﷺ د لمانځه حال ترې ښکاري، چي د هغه به نو څه ډول لمونځ و او کله به د

---

[1] ذكره مولانا محمد زكريا نور الله مرقده في حكايات الصحابة التي ترجمت الي اللغة البشتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلګ چي راپورته سول د عتيبه کار تر کار تېر سوی و يعني مړ سوی و[1].

لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ د ښراوو څخه مکه والو دومره تاثير واخيستی په ورته ډول د رسول الله ﷺ د دعاوو د سپېڅلتيا څخه هم ډېرو خلکو تاثير اخيستی دئ، چي ځيني بېلګې يې په لاندي ډول دي:

[1] ذکره مولانا محمد زکريا نور الله مرقده في حکايات الصحابة التي ترجمت الي اللغة البشتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلامي نړۍ کي د عمري همت اغېز

# او نبوي معجزه

عمري همت چي د تل لپاره يې د اسلامي سيمو واکمنو ته د دې الهام ورکړی دئ چي هيڅ واکمن حضرت عمر رضي الله عنه غوندي بهادر، سپېڅلی او عادل نه سي جوړېدای دا چي يوه داسي څېره د اسلام و سپينو پلوشو ته په خوښۍ سره راغله د نبوي دعا پايلي او نبوي معجزه وه، چي لنډيز يې په لاندي ټکو کي خلاصه کېدای سي:

# د حضرت عمر رضي الله عنه اسلام راوړل

عمر رضي الله عنه د اسلام راوړلو څخه مخکي د مسلمانانو په تکليف ورکولو کي يو نوموتی انسان و، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وژني هڅي يې د وس تر بريده کولې[1].

يوه ورځ د کافرانو يوه جرګه جوړه سوي وه په دې جرګه کي غوښتنه سوې وه، چي څوک به محمد صلى الله عليه وسلم ووژني؟ عمر رضي الله عنه وويل: زه به يې ووژنم. خلګو ورته وويل: بېشکه ته يې وژلای سي. ده هم دستي توره راواخيسته د محمد صلى الله عليه وسلم د وژني اراده يې وکړه کله چي را روان سو پر لاري سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په مخه ورغلی پوښتنه

---

[1] احمد – المسند ٦/ ۴۲۷، ابوداود – السنن ۲/ ۵۳۸، النسائي – السنن ٦/ ۱۱۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ځني وکړه، چي اې عمره ! چيري ځي؟ عمر رضي الله عنه ورته وويل: ځمه چي محمد صلی الله علیه وسلم ووژنم (العياذ بالله) سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورته وويل: څومره بې فکره سوی يې، که ته محمد صلی الله علیه وسلم ووژنې د بنو زهره قوم، د بنو هاشم قوم او د بنو عبد مناف قوم به تا ووژني. عمر رضي الله عنه ته درد (غصه) ورغلی او ورته وې ويل: فکر کوم چي ته هم بې دينه سوی (مسلمان سوی) يې، نو لومړی به ستا کار وکړم يعني وه به دي وژنم بيا به گورم چي څه وکړم دا خبره يې وکړه توره يې راوکښل سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وويل: هو زه مسلمان سوی يم، ده هم خپله توره را وکښله د دواړو طرفو څخه د تورو وارونه شروع سول کله چي حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه و عمر رضي الله عنه ته وويل: ته لومړی د خپل کور څخه ځان خبر کړه، چي ستا خپله خور او اخښی دواړه مسلمان سوي دي. عمر رضي الله عنه چي دا خبره واورېده د درد څخه ډک سو او برابر د خور کور ته روان سو، د خور کور ته چي ورسېدی د ده اخښی حضرت خباب رضي الله عنه او د ده خور دروازه تړلې وه دواړو يعني ښځي او خاوند د قرآنکريم تلاوت کاوه عمر رضي الله عنه په زوره دروازه ووهله حضرت خباب رضي الله عنه د ده د ږغ سره دننه پټ سو د قرآن کريم سيپاره د چابکی له امله دباندي پاته سوه، خور يې دروازه خلاصه کړه د عمر رضي الله عنه په لاس کي يو شی و په هغه يې خور پر سر ووهل او ورته وې ويل: د خپل ځان دښمني! بې دينه سوي (مسلمانه سوي) يې؟ د خور تر سر يې ويني رواني سوې عمر رضي الله عنه دننه ورغلی و اخښي ته يې وويل: څه مو کول او دا آواز د چا و؟ اخښي يې ورته وويل خبري اتري مو کولې. عمر رضي الله عنه ورته وويل: آيا تا خپل دين پرې ايښی او بل دين ته اوښتی يې؟ اخښي يې ورته وويل: که بل دين حق وي نو بيا؟ عمر رضي الله عنه چي دا واورېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستي يې اخښې تر ږيره ونيوى، ږيره يې ځني وکښل پر مځکه يې را غوځار کړ، ښه يې وواهه خوريې د خلاصولو هڅې کولې خو ده پر مخ باندي په دومره زور سره په چپلاخه ووهله چي تر مخ يې ويني رواني سوې آخر دا خو هم د عمر خور وه ورته وې ويل: موږ له دې امله وهل کېږو چي مسلمانان سوي يو بېشکه موږ مسلمانان يو، څه چي ستا په وس وي هغه وکړه په دغه حالت کي د عمر ﷺ پر هغه سپپاره سترګي ولګېدې چي په تلوار کي دباندي پاته سوې وه او د قرآنکريم اياتونه پر ليکلي وه په دغه وخت کي د عمر ﷺ درد په وهلو کم سوى و او د خور ويني يې وليدې چي ډېري بهيدلې، شرم ورغلى نو خور ته يې وويل: ښه ته راته ووايه دا څه شي دئ؟ خوريې ورته وويل: ستا لاس نا پاکه دئ ناپاکه لاس و دې سپپارې ته نه سي ورتلاى عمر ﷺ چي هر څومره ټينګ سو، خو خوريې و بې اودسه او بې غسله چا ته د قرآنکريم اياتونه نه ورکول آخر عمر ﷺ ولاړى غسل يې وکړ او هغه پاڼه يې واخستله. په دغه پاڼه کي سورة [طه] ليکلى و، عمر د دغه سورة ويل پيل کړل، کله چي تر [ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴿١٤﴾ ] پوري ورسېدى حال يې بدل سو خور او اخښې ته يې وويل: ښه دئ ما هم د محمد ﷺ خدمت ته بوزئ د دې خبري په اورېدلو سره حضرت خباب ﷺ دباندي راووتى او ورته وې ويل: اې عمره! زه تاته زيرى درکوم چي پرون د پنجشنبې په ورځ رسول الله ﷺ داسي دعا وکړه، چي: اې الله ﷻ! په عمر او ابو جهل کي چي کوم يو تاته خوښ وي په هغه سره اسلام ته قوت ورکړه. يعني مسلمان يې کړه (دوى دواړه په قوت سره مشهور وو) خباب ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياته کړه: معلومېږي چي د رسول الله ﷺ دعا ستا په هکله قبوله سوې ده. تر دې څخه وروسته عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ و خدمت ته حاضر سو او د جمعې په سهار يې اسلام راوړ[1].

کله چي حضرت عمر رضي الله عنه مسلمان سو د کافرانو مورال ټيټ سو، خو بيا هم مسلمانان يوه کوچنۍ ډله وه او په کافرانو ټوله مکه ډکه وه بلکي ټول عرب کافران وو د عمر رضي الله عنه په مسلمانېدو کافرانو نور هم زور واخيستی مشورې او جلسې يې پيل کړې او د باعزته مسلمانانو د له منځه وړلو هڅې يې کولې او بېلا بېل پلانونه يې جوړول، مګر مسلمانانو ته د عمر رضي الله عنه په مسلمانېدو يو ويار ور په برخه سو هغه دا و، چي مسلمانانو په مسجد حرام کي په ښکاره لمونځ کول پيل کړه، حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: د عمر رضي الله عنه مسلمانېدل د مسلمانانو فتحه وه او هجرت يې د مسلمانانو ملاتړ و او خلافت يې رحمت و[2].

دا هم د رسول الله ﷺ معجزانه توان و، چي د عمر رضي الله عنه په اړه يې دعا قبوله او د تل لپاره يې د نيکمرغيو څښتن کړ.

همدا ډول رسول الله ﷺ د خپل ژوندانه د خوږ ملګري مورام خير ته هم دعا وکړه الله ﷺ يې دعا قبوله کړه په اسلام مشرفه سوه، چي پېښه يې په لاندي ټکو کي څرګندېږي:

---

[1] البخاري – الصحيح (فتح الباري، ۲۵/۱۵)، احمد فضائل الصحابة ۲۷۸/۱، البخاري – الصحيح (فتح الباري ۱۹۲/۷) مسلم – الصحيح (بشرح النووي ۵۹/۹)، ابو نعيم – دلائل ۳۶۲/۱.

[2] اسد الغابة ۳۱۵/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### دام خیر په اړه

## د رسول الله ﷺ دعا قبوله سوه

کله چي د مسلمانانو شمېر (۳۹) نفرو ته ورسېدی نو ابوبکر رضي الله عنه د اسلام د ښکاره کولو لپاره هیله وکړه، چي په څرګند ډول تبلیغ وکړه سي نبي علیه السلام اول ځل انکار وکړ خو د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په ډېر ټینګار یې د ده غوښتنه قبوله کړه. د اسلام د ښکاره کولو اجازه یې ورکړه دوی ټول مبارکان د کعبې مسجد ته ولاړل حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه د تبلیغ خطبه پیل کړه دا په اسلام کښې تر ټولو لومړی خطبه وه، چي ده مبارک وویل. په دغه ورځ سید الشهداء حضرت حمزه رضي الله عنه د نبي علیه السلام اکا هم اسلام راوړ او تر دغي ورځي دري ورځي وروسته حضرت عمر رضي الله عنه په اسلام مشرف سو خطبه چي پیل سوه د څلورو طرفونو څخه کافرانو او مشرکانو پر مسلمانانو چپاو راوړ، حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه سره د دې چي په مکه مکرمه کښې د ده عزت او درنښت منل سوی و خو کافرانو دومره وواهه چي مخ مبارک یې د وینو ډک سو، پزه او غوږونه یې ټوله په وینو رنګ سول اونه پېژندل کېدی په سوکانو او لغتو یې وواهه او سربیره پکښې وغورځېدل څه چي یې په توان وه هغه یې ورسره وکړل ابوبکر صدیق رضي الله عنه بې هوښه سو، د ده مبارک خپل قوم بنو تمیم خبر سو او د دغه ځای څخه یې پورته کړ او کور ته یې راوړی، ټولو خلګو ته دا یقیني وه چي ابوبکر صدیق رضي الله عنه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې بې رحمه يرغل څخه ژوندی نه سي پاتېدلای بنو تميم مسجد ته راغلل او اعلان يې وکړ چي که چيري ابوبکر ﷺ د دې وهلو څخه مړ سو نو موږ به يې په بدله کښي عتبه بن ربيعه ووژنو عتبه د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په وهلو کښي د زياتو بدبختيو اظهار کړی و تر ماښام پوري ابوبکر صديق ﷺ بېهوښه و دوی چي به هر څه ورته وويل ده مبارک به خبري نه کولې ځکه د خبرو کولو توان يې د لاسه ورکړی و کله چي ماښام سو دوی بيا ډېر ږغونه ورته وکړل د دې لپاره چي خبري وکړي په دغه وخت کي ده مبارک د خبرو توان پيدا کړی و خبري يې وکړې خو لومړی خبره يې دا وه چي د محمد ﷺ څه حال دئ؟ هغو ورته وويل چي د هغه د لاسه دومره غم درته پېښ سو تووله ورځ د مرګ په خوله کي وې ته يې لا پوښتنه کوې؟ تووله ورځ دي د مرګ او ژوند درک نه و معلوم اخر چي څه ساه در پکښې پاته ده هغه هم د نبي ﷺ پوښتني کوې؟ خلک ولاړ سول د ولاړېدو په وخت کي يې د ده مور ام خير ته وويل: چي د ده د خوړلو او څښلو لپاره يو شی برابر کړه، مور يې هم يو شی برابر کړ رايې وړی او ده ته يې د خوړو ټينګار وکړ، خو د ده مبارک هغه يوه خبره وه چي د نبي ﷺ څه حال دئ پر هغه څه تېر سول؟ د ده مبارک مور ورته وويل: زه خو په هغه نه يم خبره. ده ورته وويل چي د حضرت عمر ﷺ خور ام جميل ته ورسه او د ده مبارک پوښتنه ځني وکړه. هغه غريبه د خپل زوی د مظلومانه او پرېشانه حالت د غوښتني د پوره کولو لپاره و ام جميل ته ورغله او د نبي ﷺ د حال پوښتنه يې ځني وکړه. هغې هم د عامو مسلمانانو په څېر خپل اسلام پټ ساتلی و، و دې ته يې وويل چي زه هيڅ څوک نه پېژنم او محمد ﷺ څوک دئ؟ ستا د زوی ابوبکر ﷺ په حال خبره سوم ډېره خوابدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوم، که چیري ته وایي راسره ولاړه سه ستا سره به ولاړه سم او ستا د زوی حال به ووینم د ام خیر ورسره خوښه سوه دواړي یو ځای راغلې او د ابوبکر ﷛ حال یې ولیدی، ام جمیل چي ورته وکتل د توان څخه یې ووتل بي اختیاره په ژړا سوه، چي دې بدعملو پر څه حال باندي کړی دئ الله ﷻ دي دوی ته خپله سزا ورکړي. حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د دې څخه پوښتنه وکړه، چي نبي ﷺ پر څه حال دئ ام جمیل د ابوبکر د مور و طرف ته اشاره وکړه چي دا یې اوري. ابوبکر ﷛ ورته وویل د دې څخه مه وېرېږه. ام جمیل ورته وویل چي رسول الله ﷺ بېخي جوړ او روغ دئ. ابوبکر صدیق ﷛ پوښتنه ځني وکړه، چي اوس چیري دئ؟ ام جمیل ورته وویل چي د ارقم ﷛ په کور کي دئ. ابوبکر ﷛ وفرمایل چي زما دي په الله ﷻ قسم وي چي تر هغه وخته پوري به هیڅ خوړل او څښل ونه کړم تر څو رسول ﷺ ونه وینم. د ده مبارک مور بیا په دې وجه نارامه وه، چي دی یو څه خوراک او څښاک وکړي تر څو یو څه توانایي یې په بدن کي پیدا سي ځکه کافرانو ټوک ـ ټوک کړی و. د بلې خوا ده مبارک قسم کوی چي زه به تر هغه وخته پوري خوراک ونه کړم چي نبي ﷛ ونه وینم په همدې وجه مور یې انتظار وکړ، چي د خلګو تلل او راتلل بند سي بیا یې د رسول الله ﷺ د لیدلو لپاره بوزي، په دې وجه چي څوک یې ونه ویني او تکلیف ور ونه رسوي کله چي د شپې ډېره برخه تېره سوه نو ابوبکر ﷛ یې د ارقم کور ته بوتی کله چي ابوبکر ﷛ ور ورسېدی د رسول ﷺ په غاړه کي یې لاس ور واچوی او رسو ل الله ﷺ د ده په غاړه کي لاس واچاوه، دواړه په ژړا سول ټولو مسلمانانو هم ژړا ورسره پیل کړه، ځکه چي د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ حال د لیدلو نه و، د دې څخه وروسته ابوبکر صدیق ﷛

خواست وکړ، چې دا زما مور ده تاسو د دې لپاره د هدایت دعا وکړئ او دې ته د اسلام بلنه ورکړئ. نبي ﷺ اول دعا ورته وکړه او وروسته یې اسلام ته وهڅول. دا مبارکه په دغه وخت کې مسلمانه سوه[1].

---

[1] ابن کثیر – السیرة ١/ ٤٤٠، سبل الهدی والرشاد ٢/ ٣١٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ابوهريرة رضي الله عنه د مور په اړه

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا يوه معجزه وه

ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي:

زما مور بت پرسته وه. (د اسلامي مسئوليت او مور والي د وصيلې له مخې مې) د اسلام د قبلولو دعوت ورکړ، خو مور مې له دې کار څخه ليري پاته سوه. زه د زړه درد ی له امله و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ژړا راغلم د ځان او مور په اړه مې معلومات ورکړل بيا مې هيله ځني وکړه تر څو زما مور ته د هدايت دعا وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم زما غوښتنه ومنله، زما مور ته يې دعا وکړه، زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د خوشالۍ سره مل راووتم، کله چي کور ته راغلم د کور دروازه بنده ده. ما چي دروازه وټکوله مور مي راووتل د شهادت کلمه يې وويل، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعا په برکت په اسلام مشرفه سوه او د تلپاته بدمرغۍ څخه د نبوي معجزې په مټ وژغورل سوه[۱].

---

[۱] مسلم برقم (۲۴۹۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوچکالۍ څخه خلاصون

انس رضی الله عنه فرمايي:

د جمعې ورځ وه رسول الله ﷺ خطبه ويل. يو سړی راغی رسول الله ﷺ ته يې وويل: يا رسول الله ﷺ! مالونه مو هلاک سوه، لاري مو پرې سوې يعني د وچکالۍ له امله مو اوښان کمزوري دي پر لاري نه سي تللای، ته دعا وکړه چې څښتن تعالی ﷻ دعا وکړي او موږ د دې ناورين څخه خلاص سو. انس رضی الله عنه زياتوي، چې رسول الله ﷺ دستي دعا وکړه. تر دغه مهال هيڅ وريځ نه وه په ناڅاپي ډول وريځ پيدا سوه، باران پيل سو پوره يوه اوونۍ باران واورېدی، که مو کتل د راتلونکي جمعې په ورځ يو بل کس راغی د رسول الله ﷺ څخه يې وغوښتل چې يا رسول الله ﷺ! ته دعا وکړه موږ د ډېر باران څخه هلاک سوو ته دعا وکړه چې څښتن تعالی ﷻ باران ودروي. رسول الله ﷺ دعا وکړه الله ﷻ باران ودروی، هغه کس چې تللی په داسې مهال کې ولاړی چې لمر راختلی و[۱].

---

[۱] رواه البخاري - انظر فتح الباري ۲ (۹۳۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له آسمان څخه

# د ملائکو راکښته کېدل

مناسبه به نه وي چې د ملائکې پر حقیقت وږغیږو ځکه دا کربښې مو نبوي معجزو ته ځانګړې کړې دي خو دومره باید ووایم چې ملائکه دالله جل جلاله هغه مخلوق دئ چې انسان بیخي د دې جوګه نه دئ چې ملائکې ووینې او یا دې ورسره خبرې وکړي او که څوک په دې لټه کې سې چې ملائکې دې له اسمان څخه راکښته کړي نو د شونتیا لاره یې بیخي ډب ده.

مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې له اسمانه د بدر په غزا کې ملائکې راکښته سوې دا د ده مبارک معجزه او نبوي توانایي وه، چې د بشري توانایي سره توپیر لري.

د لا سپیناوي په موخه ویلای سو د بدر په غزا کې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسلمانانو سختې حملې او جذبې ولیدې وې فرمایل:

نژدې دئ چې کافران به ماته وخوري ځکه د یوې خوا د مسلمانانو جذبه وه د بلې خوا د ملائکو مرسته وه ځکه په یوه روایت کې راغلي دي، چې عکرمة رضي الله عنه فرمایي: د بدر د جګړې په ورځ به د کافرانو سرونه وهل سوي وه سرې به یې معلوم نه و، چې چا وژلي دي بلکې هغه کسان چې ملائکو به وژلي وه د هغه کسانو څخه چې مسلمانانو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژلي په ښکاره معلوميده[1].

---

(1) وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ
لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾
بَلَىٰٓ ۚ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ
ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ۗ وَمَا
ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ سورة آل عمران الايات ١٢٣، ١٢٤، ١٢٥،
١٢٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدر په غزا کي

# باران اوربدل يوه معجزه وه

د بدر په غزا کي چي د کافرانو د پوځي ځواکونو شمېر د اسلامي ځواکونو څخه څو برابره و په ښکاره ډول د کافرانو سره د مسلمانانو جګړه د ځان وژني په معنی وه، خو د مسلمانانو لوی ویاړ د رسول الله ﷺ شتون و، چي په هره شیبه کي معجزې تري څرګندېدلې، په دې لړ کي یوه معجزه د باران اورېدل و ځکه په کومه ورځ چي جګړه پیلېده الله ﷺ تر دغي ورځي په وړاندي شپه باران واوروی چي په پایله کي يې مشرکانو ته سخت تاوانونه واړول او سختي ستونزي يې ورته پېښي کړي، د مسلمانانو خوشالي او سپېڅلتیا پرې راغله، مځکه يې هواره او رېګنه مځکه يې کلکه کړه تر څو د قدم ایښودلو جوګه سوه[۱].

---

[۱] احمد – الفتح الرباني ۴۳/۲۱ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ ﴿١١﴾ سورة الانفال، ۱۱ آیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبوي معجزه وه چي

# خاورو کافران پر شا وتمبول

کله چي د بدر غزا رامنځته سوه د مسلمانانو شمېر ډېر لږ و او د کافرانو شمېر د مسلمانانو څو برابره و ډېري نازکي او حساسي شېبې وي د کومو کسانو زړونه چي د نفاق په اور سوځلي وه هڅوی د ډېري ویري څخه د آسمان په کنارو ځړېدل یوازي محمد ﷺ او د ده سرتېري ملګري د همت غرونه وه، چي په پوره مېړانه يې د کافرانو ماتي ته ملا وتړل او رسول الله ﷺ د څښتن تعالی ﷻ څخه د هغه ژمني د پوره کولو غوښتنه وکړه کومه چي الله ﷻ د دوو شیانو څخه د یوه د پوره کولو لپاره کړې وه، بیا يې یو موټ ریګ را واخیست د کافرانو لوري ته يې وغورځوی الله ﷻ د دغه موټ ریګ څخه د ټولو کافرانو سترګو، خولو او پزو ته ریګ ورساوه چي دوی يې په ډېر بد حالت اخته کړل او په مټ يې کافرانو ته ډېره لویه ضربه ورکړه[1].

---

(1) فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِىَ ٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾ سورة الانفال الاية ١٧

انظر : الهیثمي – مجمع الزوائد ٦/٨٤ قال و رواه الطبراني و رجاله رجال الصحیح.

وانظر : ابن هشام السیرة ١/٣٢٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د احزاب د غزا ورانداوينه

څرنګه چي د احزاب غزا د مسلمانانو لپاره ډېره ستړې وه د کافرانو دېرش زره کسيز ځواک د مسلمانانو د له منځه وړلو لپاره ليځي رانغښتي وي او اسلامي حکومت يې محاصره کړی و. د دې ستړيا تر پيښېدو وړاندي رسول الله ﷺ پخپله نبوي توانايي سره د معجزې په بڼه و مسلمانانو ته د دې پيښي وړاندوينه کړې وه مسلمانانو چي د احزاب پيښه وليده دستي د رسول الله ﷺ هغه وړاندوينه ور په زړه سوه او پخپلو کي يې سره وويل چي دا هغه پيښه ده کومه چي الله ﷻ او رسول الله ﷺ سره ژمنه کړې وه[1].

## د احزاب په غزا کي د سېلۍ راتګ يوه معجزه وه

کله چي پر مسلمانانو باندي د کافرانو شا وخوا څليرويشت ورځنۍ محاصره بشپړه سوه رسول الله ﷺ دالله ﷻ څخه وغوښتل چي پر دوی باندي ماته راولي الله ﷻ د ده مبارک دعا قبوله کړه او په

---

(1) ﴿وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُوا۟ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا﴾ سورة الاحزاب ۲۲ آيت. وفي البحر عن ابن عباس قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم لأصحابه: إن الأحزاب سائرون إليكم تسعاً أو عشراً أي في آخر تسع ليال أو عشر أي من وقت الأخبار أو من غرة الشهر فلما رأوهم قد اقبلوا للميعاد قالوا ذلك فزادهم بذلك ما وعد بهذا الخبر. وتعقبه ابن حجر بأنه لم يوجد في كتب الحديث. الوسي — التفسير ج: ۱٦ ص: ۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیلۍ باندي يې د کافرانو ځواکونو ته ماته ورکړه، چې د لا سپيناوي لپاره يې د حذيفة بن يمان روايت رانقلوو چې فرمايي[1] :

د خندق په غزا کي د مکې کافران زموږ طرفته وه او د دوی سره د کافرانو نوري ډېري ډلي وې، چې پر موږ باندي راختلي وې او د حملې لپاره تيار وه او دلته په مدينه منوره کي د بني قريظو يهوديان وه، چې هر وخت د دوی څخه دا وېره وه چې دوی مدينه منوره خالي ووينې او زموږ اهل او عيال بيخي له منځه يوسي موږ د مدينې دباندي د جنګ په سلسله کي پراته وو منافقانو به د کور د ديوازي والي او خالي والي په بهانه د نبي ﷺ څخه اجازه غوښته او بيرته به کورو ته راتلل نبي ﷺ به هر اجازه غوښتونکي ته اجازه ورکول په دغه بهير کې يوه شپه دومره سخته سيلۍ (باد، دوړي) راغله چې نه د دې څخه مخکي راغلې وه او نه وروسته، تياره دومره زياته وه چې د يو سړی ليدل خو څه کوې خپل لاس نه ليدل کېدی، باد دومره سخت و چې بوږهاری يې د برق په څېر و منافقان خپلو کورو ته بېرته تلل. زموږ درې سوه کسيزه ډله په دغه ځای کي وه نبي ﷺ د هر يوه پوښتنه کوله او د هري خوا څېړنه يې کول په دغه لړ کي نبي عليه السلام زما خواته تېرېدی زما سره نه د دښمن څخه د حفاظت وسله وه او نه د يخ د مخنيوي لپاره څه جامه وه، يو کوچنی پټو را سره و، چې ما پر ځان اچولی و، پر پوندو باندي پر مځکه پوري مښتي ناست وم، نبي عليه السلام پوښتنه وکړه چې څوک يې؟ ما ورته وويل : حذيفة يم، زه د يخ له امله ولاړېدای نه سم او د شرم له امله په مځکه پوري پيوست سوم، نبي عليه السلام

---

[1] ابن سعد – الطبقات ٢ / ٧٣، الطبري – التفسير ١٢٨/٢١، ابن حجر – فتح الباري ٣٩٣/٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته وویل : ولاړ سه ودرېږه د دښمنانو ټولګیو ته ولاړ سه او د هغوی حال راوړه چي څه کېږي؟ زه په دغه وخت کي د ېري او یخنۍ له امله تر ټولو په بد حالت کي وم خو د رسول الله ﷺ د امر منلو لپاره ولاړ سوم دستي روان سوم کله چي زه روان سوم نو نبي ﷺ داسي دعا وکړه:

اللهم احفظه من یدیه و من خلفه و عن یمینه وعن شماله ومن فوقه ومن تحته.

ژباړه : اي الله ﷻ ! د ده ساتنه د مخ د لوري او د شا د لوري څخه وکړې د راسته او چپه لوري څخه یې (ساتنه وکړې) د لوړي او لاندي خوا څخه یې (ساتنه وکړي). حذیفة ﷜ وایي نبي ﵇ چي دا دعا وکړه زما څخه بېره او یخني ېښخي ولاړل او پر هر قدم ماته معلومېده چي ګویا زه په ګرمۍ کي را روان یم او زما د روانېدو په وخت کي نبي ﷺ دا هم راته وویل: چي په پټه خوله ولاړ سه هیڅ حرکت مه کوه محض وګوره چي څه کېږي؟ زه چي هلته ورسېدم نو ومي لیدل چي اور بلېږي خلک ځانونه ورته تودوي یو سړی مي ولیدی چي پر اور لاس تودوي بیایې پر تشي موږي هري خواته ناري دي چي بېرته ولاړ سئ (یعني درځئ کورو ته) هر سړي د خپل قوم و خلګو ته د بیرته تلو ناري وهلې د دوئ پر خیمو باندي د څلورو طرفونو څخه بادونو ډبري اورولې خیمې یې شکېدلې. آسونه او نور حیوانات یې هلاک کېدله. ابو سفیان چي د ټولو قومونو لکه سردار داسي جوړ سوی و پر اور یې ځان تودوی په زړه کي مي راغله چي له منځه یې یوسم دستي مي له ترکش څخه غشی راوکښی خو د نبي ﷺ ارشاد را په زړه سو، چي حرکت ونه کړې وګوره راسه ! بېرته مي غشی وترکش ته واچاوه دوی ته یو څه شک پیدا سو او وې ویل: په تاسو کي یو څوک جاسوس سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو دي خپل ملگري تر لاس ونيسي ما هم ژر يو سړي تر لاس ونيوی او پوښتنه مي ځني وکړه چي ته څوک يې؟ هغه راته وويل: سبحان الله ته ما نه پيژنې؟ زه فلانکی يم زه د هغه ځای څخه بېرته را روان سوم کله چي نيمي لاري ته راورسېدم تقريباً شل سواره د شا له خوا راپسې راغله چي لنگوټې يې تړلي وې او راته وې ويل: چې ته خپل آقا ته وايه چي الله ﷻ د دښمنانو چاره وکړه ته بېغمه اوسه زه چي کله بېرته راورسېدم نبي ﷺ يو کوچنی پټو پر سر کړی و لمونځ يې کاوه د نبي ﷺ مبارک عادت دا و، چې کله به د وېري څه خبره پېښه سوه ده مبارک به د لمانځه و لوري ته توجه کول کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو، ما خپل د حال ټوله کيسه ورته واورول کومه چي مي ليدلې وه، نبي ﷺ چي د جاسوسۍ کيسه واورېدل نو غاښونه مبارک يې (د خنداڅخه) وځلېدل، نبي ﷺ زه د خپلو پښو مبارکو سره پرې ايستلم او د خپل پټو يوه برخه يې پر ما واچول ما خپله سينه د رسول الله ﷺ د تلو مبارکو سره ومښلول[1].

---

[1] مسلم – الصحيح ١٤١٤/٣، (حديث ١٧٨٨) ابن هشام – السيرة ٢٣٠/٢، الحاکم – المستدرک ٣١/٣، الهيثمي – کشف لاستار ٣٣٥/٢، مجمع الزوائد ١٣٦/٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حنین په غزا کي د معجزې په مټ

# ماته په بریالیتوب واوښته

کله چي مکه مکرمه فتحه سوه د حنین غزا رامنځته سوه په دې غزا کي په لومړیو شېبو کي مسلمانانو ماته وخوړه خو د رسول الله علیه السلام معجزه وه، چي د الله ﷺ له لوري مرسته راغله او څرګند بریالیتوب تر ګوتو سو چي شالید یې په لاندي ټکو کي خلاصه کېدای سي:

د حنین په غزا د مخالف لوري مشرتابه مخکي خپلو پوځیانو ته ویلي وه، چي هر کله مسلمانان رانژدې سول یو دم به د غشو باران پرې کوئ بیا به یو دم په ټولیزه توګه حمله پرې کوئ د مخالف لوري پوځیان پټ په درو کي ناست وو اسلامي ځواکونو ته د دوی موقعیت نه معلومېده کله چي اسلامي پوځ په دره ورکښېوتی ناڅاپه هغو د غشو باران پر جوړ کړ. بیا یې په ټولیزه توګه حمله پر وکړه پر مسلمانانو باندي یې دومره فشار راوستی چي وشاتګ ته یې اړ کړل په پایله کي اسلامي پوځ یوې او بلي خوا ته وشیندل سو. ځینو په تېښته پیل وکړ او رسول الله ﷺ یې یوازي پرېښودی د رسول الله ﷺ سره یوازي دوولس تنه اصحابان پاته سول [1].

---

[1] لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِى مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ سورة توبه الایة ۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کي نبي ﷺ خپله نبوي مېړانه ښکاره کړه پر مخ ولاړی او سخت جنګ يې پيل کړ، بيا يې خپل اکا عباس ﷺ ته چي ډېر لوی ږغ يې و امر وکړ، چي مسلمانانو ته اواز وکړي تر څو سره يوځای سي د عباس ﷺ د اواز سره ټول مسلمانان بيرته رايوځای سول پر کافرانو باندي يې حملې پيل کړې[1].

رسول الله ﷺ په دغه وخت کي يو موټ خاوري واخيستې د دښمن لوري ته يې وشيندلې د دغه خاورو څخه الله ﷻ د هر کافر سترګو ته يوه برخه ورسوله چي په ډېر بد حالت يې اخته کړل او په ډېر لنډ وخت کي يې ماته وخوړه مسلمانانو يو بې ساری بريا ليتوب تر ګوتو کړ، آن تر دې چي په لسهاوو زره اوښان، سلاوي، خوراکي توکي او اسيران يې ونيول، دښمن په ټيټو سترګو د معجزوي توان په وړاندي مقاومت له لاسه ورکړ او په ډېره چابکۍ د طائف پر لوري وخوځېدی[2].

---

[1] ابن كثير – البداية والنهاية ج : ۴ ص : ۳۳۰ ، الواقدي – مغازي ج : ۳ ص : ۸۹۳ ، ابن هشام – السيرة ج : ۲ ص: ۴۴۲، احمد – المسند ج: ص : ۳۷٦، البخاري – الصحيح ج: ۵ ص: ۳۵ حديث: ۴۳۱۷. مسلم – الصحيح، ج : ۳ ص : ۱۴۰۰، حديث : ۱۷۷٦، الهيثمي – مجمع الزوائد، ج : ٦ ص : ۱۸۲.

[2] مسلم – الصحيح، ج : ۳ ص : ۱۳۹۸. ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٧﴾ سورة توبة، ۲٦ – ۲۷ آيتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رسول الله ﷺ د وژني

# په شوم هدف پوهاى

څرنګه چې اسلامي حکومت د بنو نضير قوم سره د اور بند تړون کړی و په دې تړون کې د يو بل سره د مرستې يادونه هم سوې وه له همدې امله رسول الله ﷺ د يو څو ملګرو سره بن نضير قوم ته ورغلی تر څو دوی د عمير رضي الله عنه په ديت کې همکاري ورسره وکړي، چې په خطا سره يې د بنو کلاب دوه کسان وژلي وه، کله چې يې دوی ته بيان وکړ دوی ورته وويل: صحيح ده تاسو دلې کښينئ موږ هم داسي کوو کله چې دوی ولاړل رسول الله ﷺ يوه دېوال ته څنګ وهلی و. دوی پخپلو کې مشوره سره وکړه چې راسئ محمد ﷺ ووژنو د مرګ پلان يې داسي جوړ کړ، چې د ژرندې پل به يو څوک اخلي او د محمد ﷺ پر سر باندې به يې ايله کوي تر څو هغه په ووژل سي. د دغه کار لپاره يو بدبخته عمر بن جحاش تيار سو که څه هم سلام بن مشکم د دې کار مخالفت وکړ، خو چا يې پر خبره غوږ نه و نيوه د بل لوري څخه الله جل جلاله خپل نازولي ته د جبرائيل عليه السلام په واسطه خبر ورکړ، چې يهوديان داسي پلان لري. رسول الله ﷺ په تيزۍ سره د مدينې پر لوري روان سو. وروسته بيا اصحابان مبارکان ورسره يوځای سول اصحابانو ورته وويل، چې يارسول الله ﷺ! تاسو را وپاڅېدلاست موږ هيڅ پوه نه سوو؟ رسول الله ﷺ د يهوديانو د شوم پلان په اړه معلومات ورکړل. همدا د نبي ﷺ معجزه وه، چې بشري توان پر داسي پيښو د پوهاوي توان نه لري[1].

---

[1] ابن اسحاق – السيرة ٣ / ١٩١

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د معراج پېښه نبوي معجزه وه

نړیوال ساینس پوهان په دې اند دي چې لوړ هيڅ آسمان نسته بلکې پورته يوه نه پايېدونکې فضا ده. د دوی دغه درواغجنه وینا یوازي د دې خبري پر بنسټ ده چې د دوی کوچني فکرونه د دې جوگه نه دي چې د يوه لوی واکمن پر بې ساري واکمني دي په پوره ډول پوهاوی راولي يا په بل عبارت چې په ساده بڼه يې تعبير کړو دوی تر اوسه پدې نه دي توانېدلي چې داسمان د لوړوالي معيار ځانته معلوم کړي هر څومره هلي ځلي چې يې کړي دي يوازي د ناتوانی پر لاره تللي دي نو ځکه دوی وايي چې آسمان نسته. حقيقت دا دئ چې الله ﷻ اووه آسمانونه، عرش – کرسي او اووه مځکي پيداکړي دي خو انساني فکر د دې توانايي نه لري چې د دې ټولو شيانو پېژندنه دي وکړي. په هر صورت څوک چې په دې وتوانېږي چې د اوو آسمانونو سفر وکړي ښکاره خبره ده، چې معجزه ورته ويل کېدای سي ځکه دا کار تر بشري توان وتلی کار دئ. دغه معجزه د رسول اکرم ﷺ څخه څرگنده سوې ده، چې تفصيل يې په لاندي ډول دئ:

کله چې رسو ل الله ﷺ ته يو په بل پسې ستونزي راغلې اخر د طائف د خلکو څخه هم ناهيلی سو، دا په حقيقت کي د غمونو يو سېلاب و، خو بيا هم د بشريت ويارمن انسان د دې ټولو ستونزو سره مقاومت کاوه په هر صورت ! الله ﷻ د حضرت محمد ﷺ د ډاډ په موخه ده مبارک ته د معراج ويار ور په برخه کړ، که څه هم د معراج د پيښي په نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د تاريخ پوهانو تر منځ اختلاف سته هغه په دې ډول چي امام طبري رحمة الله عليه فرمايي: دمعراج قصه د نبوت په لومړی کال پيښه سوېده.

امام نووي او امام قرطبي (رحمة الله عليهما) فرمايي: د معراج قصه د نبوت په پنځم کال کي پيښه سوېده. ځينو علماوو يې نوري نېټې هم ښودلي دي[1].

خو که چيرې د ټولو علماوو دلايل وڅېړل سي دا جوتوي چي د معراج پيښه د پيغمبرۍ په لسم کال رامنځته سوېده او دا خبره يقيني ده، چي د معراج په پيښه کي هيڅ شک نسته او د ټولو علماوو پرې اتفاق دئ په تېرو څوارلسو پېړيو کي هيچا داسي نظر نه دئ ورکړی، چي د معراج له پيښي څخه د انکار محض اشاره پکښې وي[2].

ابن قيم ليکي: رسول الله ﷺ د روح او جسد دواړو سره په ويښه د يو براق په مټ د جبرائيل عليه السلام په ملتيا د بيت الحرام څخه و بيت المقدس ته ورسېدی، رسول الله ﷺ په بيت المقدس کي کښته سو دوه رکعته لمونځ يې وکړ، خپل براق يې د مسجد د دراوزې سره وتړی. بيا رسول الله ﷺ لومړي اسمان ته ولاړی د اسمان د دروازې د خلاصولو لپاره جبرائيل عليه السلام ملايکو ته وويل: چي محمد ﷺ راسره دئ دروازه ورته خلاصه سوه. رسول الله ﷺ آدم عليه السلام وليدی سلام يې ورته ووايه، آدم عليه السلام جواب ورکړ، ښه راغلاست يې ورته ووايه او د رسول الله ﷺ د نبوت اقرار يې وکړ. الله جل جلاله و رسول الله ﷺ ته د آدم عليه السلام راسته لوري ته نېکمرغه انسانان وښودل او چپه لوري ته يې

---

[1] زاد الميعاد ٢–٤٩.

[2] البيهقي – دلائل النبوة ٣٥٤/٢، الذهبي – تاريخ الاسلام ١٤١/١، ابن كثير – البداية والنهاية ١٠٧/٣ ، وانظر : البخاري – الصحيح (فتح الباري) ٣ / ٤٩٢، ١٩٦/٧، مسلم – الصحيح ١٤٨/١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبخته انسانان وښودل. بیا رسول الله ﷺ دوهم اسمان ته ولاړی
دروازه ورته خلاصه سوه، په دوهم اسمان کي یې یحیی علیه السلام او
عیسی علیه السلام ولیدل سلام یې ورته وو ایه هغوی جواب ورکړ، مبارکي یې
ورته وویل او د ده مبارک د نبوت اقرار یې وکړ. بیا رسول الله ﷺ
دریم اسمان ته ولاړی هلته یې یوسف علیه السلام ولیدی، سلام یې ورته
وو ایه هغه جواب ورکړ، مبارکي یې ورکړه او د ده مبارک د نبوت اقرار
یې وکړ. بیا رسول الله ﷺ څلورم اسمان ته وختی هلته یې ادریس
علیه السلام ولیدی سلام یې ورته وو ایه، هغه جواب ورکړ، ښه راغلاست یې
ورته وو ایه او د نبوت اقرار یې وکړ. بیا رسول الله ﷺ پنځم اسمان ته
وختی هلته یې هارون علیه السلام ولیدی سلام یې ورته وو ایه هغه جواب
ورکړ، ښه راغلاست یې ورته وو ایه او د ده مبارک د نبوت اقرار یې
وکړ. بیا رسول الله ﷺ شپږم اسمان ته وختی هلته یې موسی علیه السلام
ولیدی سلام یې ورته وو ایه موسی علیه السلام جواب ورکړ، ښه راغلاست یې
ورته وو ایه او د ده مبارک د نبوت اقرار یې وکړ. کله چي رسول الله ﷺ
د موسي علیه السلام څخه روانېدی موسي علیه السلام وژړل، رسول الله ﷺ پوښتنه
ځني وکړه، چي ولي دي وژړل؟ موسي علیه السلام ورته وویل: پر دې مي
وژړل، چي یو ځوان چي تر ما وروسته پیغمبر سوی دئ او امتیان به یې
زما تر امتیانو ډېر و جنت ته ولاړ سي. بیا رسول الله ﷺ اووم اسمان
ته وختی په اووم اسمان کي یې ابراهیم ﷺ ولیدی سلام یې ورته
وو ایه، ابراهیم علیه السلام جواب ورکړ، مبارکي یې ورته وویله او د ده
مبارک په نبوت یې اقرار وکړ. تر دې وروسته رسول الله ﷺ سدرة
المنتهی ته بوتلل سو، بیا رسول الله ﷺ ته بیت المعمور ښکاره سو
وروسته د الله جل جلاله دربار ته ورسول سو، الله جل جلاله ته دومره نژدې سو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې ليندۍ، چي سره نژدې وي او يا تر دغه هم لږ فاصله وه، بيا الله ﷻ چي څه وحي رسول الله ﷺ ته کولي هغه وحي يې ورته وکړې، پنځوس لمونځونه يې پر فرض کړل، وروسته رسول الله ﷺ بېرته راوګرځيدی کله چي تر موسی ؑ تېريدی موسی ؑ پوښتنه ځني وکړه، چي الله ﷻ څه امر درته وکړ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چي الله ﷻ پنځوس لمونځونه راباندي فرض کړل، موسی ؑ ورته وويل:

چي بېرته ولاړ سه د الله ﷻ څخه د دغه لمونځونو د لږوالي غوښتنه وکړه، ستا امت د دومره لمونځونو توان نه لري. رسول الله ﷺ و جبرائيل ؑ ته وکتل، جبرائيل ؑ اشاره ورته وکړه يعنی دا چي که ته غواړې کېدلای سي. رسول الله ﷺ بېرته د خپل بادار و دربار ته ورسول سو او خواست يې ورته وکړ. د بخاري په يوه روايت چي الله ﷻ لس لمونځونه ورکم کړل. رسول الله ﷺ چي بيرته راوګرځيدی موسی ؑ يې خبر کړ. موسی ؑ بيا مشوره ورکړه، چي د الله ﷻ څخه د لږوالي غوښتنه وکړه، ستا امت د دومره لمونځونو توان نه لری. بيا رسول الله ﷺ ولاړی. لنډه دا چي آخر پنځه لمونځونه پاته سول بيا هم موسی ؑ ورته وويل، چي د الله ﷻ څخه د لږوالي غوښتنه وکړه خو رسول الله ﷺ ورته وويل، چي د الله ﷻ څخه شرمېږم. زه د دغه لمونځونو په کولو کي د الله ﷻ ته تسليم يم او سر ورته کښېته کوم. رسول الله ﷺ چي څه ليري سو يو آواز پدې ډول وسو: ماخپله فريضه نافذه کړه او پر خپلو بندګانو مي د لمونځو کموالی وکړ[1].

---

[1] زاد الميعاد ۲–۴۸، ۴۷، بخاري جلد – ۱، صفحه (۴۵۵، ۴۵۶، ۴۷۰، ۴۷۱، ۴۸۱، ۵۴۸، ۵۴۹، ۵۵۰) و مسلم جلد – ۱، صفحه ۹۱ – ۹۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا ډول رسول الله ﷺ په دغه شپه نوري حيرانونکي پېښې وليدې د بيلګې په ډول رسول الله ﷺ هغه کسان وليدل چې په دنيا کې د يتيمانو مالونه په ظلم سره خوري شونډان يې د اوښانو په څېر وو د اور سکروټې يې په خوله چيخلې او تر دبره (د مردارۍ وتلو) تر ځای وتلې. رسول الله ﷺ سود خوړونکي وليدل چې نسونه يې دومره لوی وو لکه خونې. رسول الله ﷺ هغه ښځې وليدې چې مړونه لرې او زنا کوي په سينو يې لوي لوي کاږه اغزي چيخل سوي وو او د اسمان او مځکې تر منځ ځړېدلې[1].

---

[1] البيهقي – دلائل النبوة ۳۵۴/۲، الذهبي – تاريخ الاسلام ۱۴۱/۱، ابن كثير – البداية والنهاية ۱۰۷/۳، وانظر : البخاري – الصحيح (فتح الباري) ۴۹۲/۳، ۱۹٦/۷، مسلم – الصحيح ۱۴۸/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رسول الله ﷺ

# د ځیګر مبارک عملیات (اپریشن)

رسول الله ﷺ تل د الله جل جلاله له خوا په معنوي صفتونو نازول سوی دئ، چي یوه بېلګه یې د کوچنیوالي له هغه عملیات څخه عبارت ده، چي د ه مبارک د ماشومانو سره لوبي کولې یو څوک راغلی او دی مبارک یې تر لاس ونیوی سینه یې وڅیري کړه یوه جامد شی یې ځني جلا کړ، بیا یې د ده زړه د سرو زرو په پیاله کي د زمزم په اوبو پرېولی بېرته یې سینه وروګنډله. د دې پېښي په لیدلو سره نور کوچنیان په چابکۍ سره و حلیمې ته ورغلل او ورته وې ویل: چي محمد ﷺ یو چا وواژه. حلیمه چي راغله که یې وکتل د ده مبارک په رنګ کي تغیر له ورایه معلومېده مړ نه و، بلکي دا د ده یوه معجزه وه[1].

---

[1] ابن هشام – السیرة ۱/۱۶۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حديبيې په تړون کې

# د رسول الله ﷺ معجزه

د حديبيې د سولې پر مهال اصحاب کرام د اوبو د کموالي سره مخ سول دوی رسول الله ﷺ ته شکايت وکړ. د رسول الله ﷺ و مخته يو لوښي پروت و، ده مبارک په هغه لوښي اودس تازه کړ، بيا يې لاس مبارک پر هغه لوښي باندي کښېښود، د ده مبارک تر ګوتو د چينې په څېر اوبه راووتې ټولو اصحابو ﷺ اودسونه پر تازه کړل اوټوله اوبه سول[1].

# دونو اطاعت

يوه ورځ رسول الله ﷺ د حاجت پوره کولو لپاره ولاړی په دغه ځای کې د ستر شی نه و، د يوې شېلې پر غاړه باندي دوې درختې جلا جلا ولاړې وې، رسول الله ﷺ ورغلی يوه درخته يې تر ښاخونو ونيوله او ورته وې ويل: اې درختې ! د الله ﷻ په حکم زما اطاعت وکړه. هغه درخته ورسره را روانه سوه داسې يې اطاعت کاوه لکه اوښ چې تر مهار ونيسي. بيا رسول الله ﷺ هغه بله درخته تر ښاخونو ونيوله او په ورته ډول يې ورته وفرمايل. هغه درخته هم راغله رسول

---

[1] رواه البخاري في الجامع الصيح رقم ۱۳۵۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷺ ته يې ستره جوړه کړه. کله چې رسول الله ﷺ حاجت پوره کړ، درختې بېرته خپلو ځايونو ته ولاړې[1].

# د غرونو سلام

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: زه يوه ورځ د رسول الله ﷺ سره و صحرا ته ووتم د رسول الله ﷺ ومخته چې به کوم غر يا درخته راتله هغه به داسي ورته ويل:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ[2].

ژباړه: پر تا دي سلام وي اې د الله جل جلاله رسوله!

# د لږو خرماوو ډېروالی

د خندق په غزا کي مسلمانان د ډول ډول ستونز سره لاس او ګريوان وو يوه ستونزه داوه، چې مسلمانانو هيڅ اقتصادي پياوړتيا نه درلوده د خندق په غزا کي ډېر مسلمانان وږي وو په هر صورت په يوه روايت کي راځي چې د بشير بن سعد لور ته خپلي مور يو څه خرماوي ورکړي تر څو خپل پلار او ماما ته يې يوسي او هغه يې وخوري. دغه نجلۍ چې خرماوي راواخيستې، د رسول الله ﷺ و مخ مبارک ته تېرېدله. رسول الله ﷺ ترې وپوښتل چې څه دي راخيستي دي؟ دې

---

[1] مسلم. رقم (۳۰۱۲) عن جابر رضي الله عنه.

[2] رواه الترمذي عن علي رضي الله عنه. رقم: (۳۶۳۵) والترغيب والترهيب (۲-۲۲۹).

ورته وویل : یا رسول الله ﷺ! دغه خرماوي خپل پلار او ماما ته وړم چي وي خوري. ده مبارک ورته وویل : دلته یې راوړه! کله چي دې خرماوي وروړې رسول الله ﷺ پر یوه پټو باندي واچولې بیا یې یو کس ته وویل: چي په لوړ اواز بږغ وکړه تر څو د خندق ټول کارکوونکي راسي او د دې خرماوو څخه خوراک وکړي. هغه کس همداسي وکړه بږغ یې وکړ، ټول خلک راغلل او د دې خرماوو څخه یې خوراک وکړ. ټول ماړه سول[1].

دا هم یوه نبوي معجزه وه، چي انساني فکر په ښکاره ډېر لیري تري پاتېږي کوم څوک چي په زړه کي د نفاق اور لري هغه ته بیخي درواغ ښکارېږي.

---

[1] قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ : ... قَالَتْ دَعَتْنِي أُمِّي عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ ، فَأَعْطَتْنِي حَفْنَةً مِنْ تَمْرٍ فِي ثَوْبِي ، ثُمَّ قَالَتْ أَيْ بُنَيَّةُ . اذْهَبِي إِلَى أَبِيكِ وَخَالِكِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ بِغَدَائِهِمَا ، ... ثُمَّ قَالَ لِإِنْسَانٍ عِنْدَهُ اصْرُخْ فِي أَهْلِ الْخَنْدَقِ : أَنْ هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ . فَاجْتَمَعَ أَهْلُ الْخَنْدَقِ عَلَيْهِ فَجَعَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْهُ .. . ابن هشام — السيرة ۲۱۶/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څو تنو په غذا

# په سوونو خلک ماړه سول

د خندق په غزا کې بله معجزه دا وه، چې رسول الله ﷺ په لږ خوراکي توکو سره ډېر اصحابان مبارکان ماړه کړل. هغه په دې ډول چې حضرت جابر رضي الله عنه چې کله د رسول الله ﷺ لوږه ولیده، نو په کور کې یې یو سېرلی درلودی هغه یې حلال کړ او یوه کاسه اوربشې یې درلودې چې شا وخوا دوه نیم کیلو ګرامه کېدې دا یې اوړه کړې کله چې غوښې او ډوډۍ پاخه سوه نو جابر رضي الله عنه په پټه رسول الله ﷺ ته وویل: یا رسول الله ﷺ! ته او ستا خاص ملګري زما میلمانه یاست. رسول الله ﷺ په دې خبره خوشاله سو. د خندق ټولو کارکوونکو ته یې خبر ورکړ، چې د جابر رضي الله عنه میلمانه یاست که څه هم جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په دې خبري سره چې د خندق ټول اصحابان یې راوغوښتل یو څه په تشویش کې سو، خو د رسول الله ﷺ امر و څه یې نه سوای ویلای. اصحابان مبارکان چې د جابر رضي الله عنه کور ته راغلل رسول الله ﷺ پخپل مبارک لاس و ټولو ته ډوډۍ ورکړه، ټول ماړه سول مګر دومره غوښې او ډوډۍ پاته سوه لکه لومړی چې وه یعنې داسې سوه لکه بیخي چې چا خوراک نه وي تر ې کړی بلکې د رسول الله ﷺ معجزه وه چې ټول ماړه سول، خو د جابر رضي الله عنه هېڅ تاوان نه وسو[1].

---

[1] البخاري – الصحیح ۴۶/۵، مسلم – الصحیح ۱۶۱۰/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د معجزې په مټ

# د امپراتوريو د نسکوريدا خبر

د خندق په غزا کي بله معجزه داوه، چي اصحابانو مبارکانو خندق کښنی ناڅاپه یوه داسي ډبره پیدا سوه، چي اصحابانو نه سوای ماتولای نو رسول الله ﷺ ته يې د دغه ډبري په اړه شکایت وکړ. رسول الله ﷺ په خپله ورکښته سو هغه ډبره يې دري ځله ووهله لومړی ځل چي يې ووهله الله اکبر يې ووايه او بيا يې وويل: ما ته د شام کیلیاني راکړل سوې. بیا يې دوهم واری پر وکړ، بيا يې الله اکبر ووايه بيا يې وويل: ما ته فارس راکړه سو. بيا يې دريم واری پر وکړ، بيا يې وويل: ما ته يمن راکړه سو[1].

د رسول الله ﷺ د دغه وړاندويني سره سم همداسي وسوه په ډېر لنډ وخت مسلمانانو دغه سيمي فتحه کړې.

# له ډبرو څخه رسول الله ﷺ ته د سلام آواز

ډبري د جماداتو يوه برخه ده، طبعاً د نطق توانايي نه لري مګر د رسول الله ﷺ معجزه وه، چي ډبرو ورته د سلام ږغونه کول څکه په يوه روایت کي راځي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د مکې هغه ډبري

---

[1] احمد – المسند ۳۰۳/۴، الهيثمي – مجمع الزوائد ۱۳۱/۶، ابن حجر – فتح الباري ۳۹۷/۷، الطبراني – المعجم الكبير ۳۷۶/۱۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هم پېژنم، چې تر نبوت وړاندې يې ما ته سلامونه ويل. په يوه بل روايت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه اوس هم هغه ډبرې پېژنم چې د بعثت پر مهال يې ما ته سلامونه ويل[۱].

# د خرما د وچې ونې ژړا

په پيل کې په نبوي مسجد کوم دريځ (ممبر) نه و، رسول الله ﷺ چې به کله خطبه ويله نو و هغه ستون ته به يې شا ولګوله کومه، چې د خرما له وچې تنې څخه وه. د وخت په تېرېدو سره اصحابانو وپتېيل چې ممبر جوړ کړي، داسې يې هم وکړه کله چې ممبر جوړ سو رسول الله ﷺ پر نوي ممبر باندې مسلمانانو ته خطبه واورول. هغه ستون د کوچنيانو يا اوښانو د ځګېروي په څېر ږغ کاوه او د رسول الله ﷺ په بېلتون باندې يې ژړا کوله. بيا رسول الله ﷺ راغلی پر هغه ونه باندې يې د ډاډ په موخه خپل لاس مبارک تېر کړ او د هغې تنې ږغ ودرېدی[۱].

[۱] ۲۰ – حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَعِيدٍ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِى بُكَيْرٍ الْعَبْدِىُّ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ عَنْ سِمَاكٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : «إِنِّى لأَعْرِفُ حَجَراً بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ، إِنِّى لأَعْرِفُهُ الآنَ». دارمي ۲۳/۱، مسند احمد ۸۹/۵.

[۱] ۳۳۱۸ – حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ ... كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ إِلَى جِذْعٍ فَلَمَّا اتَّخَذَ الْمِنْبَرَ تَحَوَّلَ إِلَيْهِ فَحَنَّ الْجِذْعُ فَأَتَاهُ فَمَسَحَ يَدَهُ عَلَيْهِ . بخاري – الصحيح ۱۱ \ ۴۱۹ باب علامات النبوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نبوي دريځ ښورېدل

عبدالله بن عمر (رضی الله عنهما) رضي الله عنه فرمايي: يوه ورځ رسول الله ﷺ په اغېزلرونکي ډول پر نبوي دريځ باندي د الله جل جلاله لويي بيانوله خلک د دې وينا څخه زيات اغېزمن وو آن تر دې چي رسول الله ﷺ خپله هم د الله جل جلاله د لويي تر اغېز لاندي راغلی و ماچي و کتل رسول الله ﷺ چپه او راسته لوري ته ښورېدی لاندي چي مي و کتل نبوي دريځ دومره په زوره - زوره ښورېدی، چي زه پر دې وو پرېدم چي رسول الله ﷺ به د دريځ څخه لاندي را ولوېږي[۱].

# و رسول الله ﷺ ته د اوښ سجده

انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي:

د انصارو يوې کورنۍ اوښ درلودی د دې لپاره چي ورځنۍ ستونزي په حل کړي. په ناڅاپي ډول اوښ د دوی څخه سرغړونه پيل کړه، بار وړلو ته يې اوږه نه ورکوله آن تر دې چي د دوی سره يې جنګ کاوه. څښتنان يې رسول الله ﷺ ته راغلل د اوښ په اړه يې شکايت وکړ. رسول الله ﷺ د ملګرو سره يو ځای د اوښ پر خوا ورغلی، اوښ

---

(۱) ۵۳۵۱ - حَدَّثَنَا بَهْزٌ .. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ {وَالسَّمَوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ} قَالَ يَقُولُ اللَّهُ أَنَا .. رَجَفَ بِهِ الْمِنْبَرُ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيَخِرُّ بِهِ. مسند احمد ۳۳۸/۱۱.

د یوه دېواله شا ته و رسول الله ﷺ د اوښ پر لوري ور روان سو اصحابانو ورته وویل: یا رسول الله ﷺ! دغه اوښ د سپي په څېر حملې کوي هسې نه چې کوم تاوان در ورسوي؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وویل: کومه پروا نه لري. کله چې رسول الله ﷺ ورنژدې سو اوښ ورته راغلی سجده یې ورته وکړه. رسول الله ﷺ پر تندي لاس ور تېر کړ، اوښ عاجزي اختیار کړه، تر داسي بریده چې کار کولو ته یې اوږه کښېښوده بیا یې سرغړونه نه ده کړې. اصحابو چې د اوښ دغه کړنه ولیده رسول الله ﷺ ته یې وویل: یا رسول الله ﷺ! اوښ تا ته سجده وکړه. موږ خو یې باید ښېخي درته وکړو؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وویل: د الله ﷻ پرته بل چا ته سجده نه ده روا، که چیري د الله ﷻ پرته بل چا ته سجده روا وای نو ما به ښځو ته امر کړی وای څو خپلو مړونو ته د مړونو د حق د ډېروالي له امله سجده وکړي[۱].

کله انسان د دې جوګه دئ چې په ورته ډول کار وکړي او یو بې نطقه حیوان دې ورته سر ټیټ کړي. همدا ډول یوه بله پېښه هم رامنځته سوې ده څکه عبدالله بن جعفر رضي الله عنه فرمایي: یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره ملګری وم د انصار یو باغ ته ورغلو. که مو کتل یو اوښ رسول الله ﷺ ته راغلی څېګروی یې و، تر سترګو یې اوښکي تویېدې. رسول الله ﷺ پر سر لاس ورتېر کړ، بیا یې وپوښتل چې د دې اوښ څښتن څوک دئ؟ یو ځوان انصاري راغلی وې ویل: چې دا اوښ زما دئ. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته د الله ﷻ څخه نه وېرېږې،

---

[۱] رواه الامام احمد في مسنده (۳/۱۵۸، ۱۵۹) قال ابن کثیر : و هذا اسناد جید و قد روي النسائي بعضه. انظر : البدایة والنهایة (۱۴۲/۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷺ ته د دې اوښ مالک کړی یې حال داچي دغه اوښ ما ته ستا ښخه شکایت وکړ، چي غذايي پالنه یې په صحیح ډول نه کوې[1].

[1] رواه ابو داود برقم (۲۵۴۹) و رواه الامام احمد في المسند (۱/۲۰۴، ۲۹۵) والحاكم في المستدرک (۲/۹۹، ۱۰۰) وقال : هذا حديث صحيح الاسناد و لم يخرجاه و وافقه الذهبي. والحديث اصله في مسلم بالاسناد نفسه دون قصة الجمل برقم (۳۴۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الهي ساتنه

ځرنګه چي د رسول الله ﷺ سره ټولو کافرانو د وس تر بریده دښمني کوله او څومره چي یې توان رسېدی، د رسول الله ﷺ د له منځه وړلو لپاره یې هڅي کولې په پیل کي رسول الله ﷺ ځیني خلک په دې ګومارلي وو، چي د شپې پیره وکړي کله چي الله ﷻ رسول الله ﷺ ته د ده د ساتني په اړه آیات نازل کړ، رسول الله ﷺ و اصحابو ته امر وکړ چي نوره پیره مه کوئ، الله ﷻ زما د ساتني ژمنه وکړه[1].

د دغه آیات تر نازلېدو وروسته رسول الله ﷺ د ټولي نړۍ د دښمنۍ سره هیڅ محافظ (چوکیدار) نه دروی د کافرانو د هر څومره هڅو سره بیا هم هیڅ په دې ونه توانېدل چي رسول الله ﷺ ته کوم تاوان ورسوي سره د دې چي رسول الله ﷺ هیڅ محافظ هم د ځان لپاره نه و استخدام کړی. د لا سپیناوي په موخه یې دوې نوري بېلګي هم رانقلوو[2]:

لومړۍ دا چي ابوهریره ﷺ فرمایي: یوه ورځ ابوجهل و خلکو ته وویل: محمد ﷺ ستاسو په مخ کي سجده کوي؟ خلګو ورته وویل: هو، ابوجهل وویل: په لات او منات بتانو دي مي قسم وي که مي محمد ﷺ پر سجده کولو باندي ولیدی زه به یې سر ووهم. یوه ورځ رسول الله ﷺ پر لمانځه باندي ولاړ و، ابوجهل خبر سو. په ډېره

---

[1] انظر: الاية ٦٧، سورة مائدة.

[2] رواه الترمذي برقم (٣٠٤٦)، والحاكم في المستدرك: (٣١٣/٢).

(c) ketabton.com: The Digital Library



چابکی سره د توري سره یو ځای محمد ﷺ ته ورغلی کله چې ورنژدې سو بې هوښه پر مځکه ولوېدی. تر څه وخت وروسته پر هوښ سو، خلګو ورته وویل: څه درته پېښه سوه؟ ده په جواب کې ورته وویل: زه چې محمد ﷺ ته نژدې سوم په ناڅاپي ډول زما او د ده تر منځ د اور لوی خندق پیدا سو، زه یې سخت وېرولم تر داسې برېده چې د ډېره وهمه بې هوښه سوم[1].

دوهمه دا چې رسول الله ﷺ د یوې غزا څخه د راتګ پر مهال تر یوې ونې لاندې بیده وو، توره یې په درخته ځړولې وه ناڅاپه یو اعرابي (صحرايي) راغلی. د رسول الله ﷺ توره یې را واخیسته پر رسول الله ﷺ باندې یې پورته کړه. رسول الله ﷺ په دغه وخت کې رابیدار سو اعرابي ورته وویل: څوک به دې اوس راڅخه خلاص کړي؟ رسول الله ﷺ په ځواب کې ورته وویل: الله ﷻ به مې د رڅخه خلاص کړي. په دغه وخت کې د اعرابي د لاسه توره ولوېده. بیا رسول الله ﷺ توره راواخیستله پر اعرابي یې پورته کړه او ورته وې ویل چې اوس به دې څوک راڅخه خلاص کړي؟ اعرابي په جواب کې وویل : ته ډېر ښه نیوونکی یې پر ما احسان وکړه رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ته پر دې شاهدي ورکوې، چې د الله ﷻ پرته بل د عبادت لایق نسته او زه د الله ﷻ پیغمبر یم؟ هغه په جواب کې ورته وویل: زه ستا سره وعده کوم، چې هیڅکله به ستا سره جنګ نه کوم او نه به د هغه کسانو سره مرسته کوم چې ستا سره جنګ کوي. اعرابي چې کله دغه خبره وکړه رسول الله ﷺ پرېښودی اعرابي پر خپله لاره باندې ولاړی، کله چې

---

[1] رواه البخاري مختصرا – انظر الفتح ۴۹۵۸/۸، و رواه مسلم واللفظ له برقم (۲۷۹۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قوم ته ورسېدی نو خپل قوم ته يې وويل: زه تاسو ته تر ټولو د ښه انسان څخه راغلی یم[1].

---

(۱) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ هَمَّ قَوۡمٌ أَن يَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١١﴾
سورة المائده – ۱۱آیت.

وانظر ابن كثير – التفسير ۵۸/۳ – ۵۹، من رواية عبدالرزاق بسنده عن طريق معمر الي جابر، والطبري – التفسير ۱۰۶/۱۰، ابن هشام – السيرة ۲۸۷/۳ – ۲۸۸، باسناد متصل، وانظر ابن حجر – فتح الباري ۴۱۷/۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رسول الله ﷺ وړاندوینې

د دې ویاړمن امت خواخوږي پیغمبر ﷺ د خپلې لوروني له مخې خپل امت ته په معجزانه ډول ټولې هغه پېښې بیان کړېدې کومې چې دا امت ورسره لاس او ګرېوان کېږي ځکه حذیفة بن یمان رضي الله عنه فرمایي:

رسول الله ﷺ د سهار لمونځ ادا کړ، منبر ته وختی او خطبه یې موږ ته وړاندې کړه تر داسي بریده چې د ماپښین د لمانځه وخت راغلی د ماپښین د لمانځه د اداینې لپاره راکښته سو. د ماپښین لمونځ یې ادا کړ بیا منبر ته پورته سو، خطبه یې بیا پیل کړه تر داسې اندازې چې د مازیګر وخت راغلی، بیا رسول الله ﷺ راکښته سو او د مازیګر لمونځ یې ادا کړ، بیا منبر ته وختی خطبه یې پیل کړه آن تر دې چې لمر ولوېدی. په دغه خطبو کي یې موږ ته ټولې هغه پېښې بیان کړې کومې چې پخوا تېرې سوې وې همدا ډول یې هغه څه راته وښودل کوم چې په راتلونکې زمانه کي پېښېدونکې دي دغه ټولې پېښې موږ زده کړې او یاد مو کړې[1].

رسول الله ﷺ د راتلونکو پېښو په اړه ډېرې وېناوې کړې دي خو د نمونې په ډول ځینې رانقلوو:

---

[1] رواه البخاري – انظر الفتح ۲/۱۱۵۵ رواه مسلم برقم: ۲۸۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جګړې په اړه پیشګویي

حضرت ام حرام رضي الله عنها د انس رضي الله عنه خاله وه، نبي صلی الله علیه وسلم به د هغې کور ته زیات تشریف وړی او کله کله به یې د غرمې آرام هم د دې په کور کې کاوه. یوه ورځ نبي علیه السلام د دې په کور کې آرام کاوه په مسکا راپورته سو، ام حرام رضي الله عنها پوښتنه ځنې وکړه، چې زما مور او پلار دې تر تا قربان سي پر څه شي مسکی سوې؟ ده مبارک وفرمایل: زما د امت څه خلک ما ته وښودل سول، چې د دریاب پر څنډه د جنګ په اراده داسي پر آسانو سپاره دي لکه پاچهان چې پر تختونو ناست وي. ام حرام رضي الله عنها وویل: اې د الله جل جلاله رسوله! ما ته هم دعا وکړه، چې الله جل جلاله مې په دوی کې شامله کړي. نبي علیه السلام وفرمایل: ته به هم په دوی کې شامله سې، تر دې وروسته بیا نبي علیه السلام آرام وکړ، بیا راپورته سو مسکی سو. ام حرام رضي الله عنها د مسکا سبب ځنې وپوښتی. نبي علیه السلام په هغه ډول جواب ورکړ. دې بیا ورته وویل: اې د الله جل جلاله رسوله! ما ته دعا وکړه چې زه هم د دوی په ډله کې داخله سم. نبي علیه السلام ورته وویل: ته به په لومړۍ ډله کې یې.

د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کې امیر معاویه رضي الله عنه د شام حاکم و، پر جزائر قبرص باندي یې د حملې کولو اجازه وغوښته. حضرت عثمان رضي الله عنه اجازه ورکړه، امیر معاویه رضي الله عنه یو لښکر تیار کړ او حمله یې وکړه. په دغه لښکر کې ام حرام رضي الله عنها او د دې مېړه دواړه موجود وو د بیرته راتګ پر وخت ام حرام رضي الله عنها پر یوه غاتره سپره وه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غاتره وتورېده دا مباركه ځني ايله سوه مغزى يې مات سو او وفات سوه او هم هلته خاوروته وسپارله سوه[۱].

# تر قيامت وړاندي شپږ پېښي

رسول الله ﷺ فرمايي: د قيامت تر راتلو وړاندي شپږ پېښي ښکاره کېږي، چي د لاندنيو پېښو څخه عبارت دي:

لومړی: زما وفات کيدل.

دوهمه: د بيت المقدس فتحه کيدل، چي په هغه وخت کي مسلمانان نه وه پر برلاسي.

دريمه: په مسلمانانو کي عمومي وبا ګډېدل.

څلورمه: د مال او شمتنی دومره ډېرېدل چي خلک به سل ديناره هيڅ نه بولي. په هغه مهال کي سل ديناره ډېره لويه شتمني وه.

پنځمه: د عربو په هر کور فتنې ننوتل.

شپږمه: د مسلمانانو او عيسايانو تر منځ روغه جوړه او بيا د عيسايانو له خوا روغه ماتول[۲].

په پورته شپږو پېښو کي پنځه رامنځته سوي دي، ځکه رسول الله ﷺ وفات سوی دئ، د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کي بيت المقدس فتحه سو او د ده مبارک په خلافت کي پر (عمواس) نومي ځاي باندي د مسلمانانو په لښکر داسي وبا ګډه سوه، چي په درو ورځو کي ديارلس زره مسلمانان وفات سول. څلورمه او پنځمه شمېره نښانې د عثمان

---

[۱] رواه البخاري انظر: فتح الباري: ٦ (٢٧٨٨)، ومسلم برقم ١٩١٢.

[۲] بخاري: ٣١٧٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ په خلافت کي ښکاره سوې.

دا هم د رسول الله ﷺ معجزه وه، چي ټولي وړاندويني رښتيني او پر خپل ځای رامنځته سويدي.

# مذهب به اور سي

په يوه حديث کي راغلي دي، چي پر خلګو باندي به داسي وخت راسي چي د دين کول به دومره ورته ګران وي لکه د اور سکروټه چي په لاس کي نيسي [(۱)].

په معاصر وخت کي د رسول الله ﷺ دغه سپېڅلې وينا بيخي رښتينې ثابته سوې ده، هر چا ته تر لمر سپينه ده د دې اړتيا بيخي نسته چي يو څه پر وليکو.

# مېرمن به د مېړه سره تجارت کوي

همدا ډول په حديثو کي راغلي دي، چي په آخر وخت کي به تجارت دومره زيات سي چي ماينه (مېرمن) به د مېړه سره په تجارت کي شراکت کوي. د تجارت د زياتوالي تر څنګ به د دروا غو شاهدي عامه سي [(۲)].

---

(۱) ترمذي ۲ –۵۰.

(۲) مسند امام احمد ۲۳۲/۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپک خلک به

# د قومي مشرانو په نامه ځرګند سي

په بل ځای کي رسول الله ﷺ فرمایي: د قومونو مشران به منافقان او سپک خلک وي د خپلو قریبانو حقوق به خوري او د پردیو خلکو درنښت به کوي. د مور او پلار څخه به سرغړونه کوي او د خپلي مېرمني (ماینې) اطاعت به کوي[1].

# نبوي سنت به د اړیکو پر بنسټ وي

رسول الله ﷺ فرمایي: په آخره زمانه کي به سلام یوازي هغه چا ته وایي چي دی اړیکي ورسره لري، یعني عمومي سلام سنت دئ باید هر چا ته وویل سي خو خلک به و نابلده سړی ته سلام نه وایي[2].

---

[1] ترمذي ۲۲۱۶.

[2] الدر المنثور ۵۳ – ۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پسونو څرونکي به

# دنګي ودانۍ جوړي کړي

رسول الله ﷺ فرمايي: چوپانان او داسي نور ټيټ رتبه خلک به ښارونو ته راکښته سي، لوړي او دنګي ودانۍ به جوړي کړي بيا به فخرونه پکښې کوي(۱).

# شراب او رشوت ته به ځانګړی نوم پيدا سي

رسول الله ﷺ فرمايي: په وروستۍ زمانه کي به شراب د شربتو په نامه خرڅېږي، سود به د تجارت په نامه کېږي او پر رشوت به د تجارت نوم ايښود ل کېږي. نر به د نرو سره او ښځي به د ښځو سره ودونه کوي(۲).

---

(۱) سنن ابي داؤد رقم ۴۶۹۵.

(۲) د يلمي بخوا له الاشاعة صفحه ۷۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ياجوج او ماجوج به راسي

رسول الله ﷺ د پيشګويي په بڼه فرمايي:

تر هغه وخته به قيامت نه سي تر څو چي په وروستۍ زمانه کي ياجوج او ماجوج رانه سي[1].

په بل ځای کي رسول الله ﷺ د الله ﷻ له لوري و انسانانو ته په قرآن کي ښودلي دي، چي په وروستي زمانه کي به ياجوج او ماجوج راسي لکه چي الله ﷻ فرمايي:

حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ (اووه لسمه سيپاره – شپږمه رکوع)

ژباړه: کله چې د ياجوج او ماجوج (بند) خلاص سي نو د هر لوري څخه به په چابکۍ سره راځغلي.

يادونه: د ځينو څېړونکو په اند ياجوج او ماجوج د يافث د اولادې څخه دوه قومه دي. يافث د نوح عليه السلام زوی دئ.

ياجوج او ماجوج د عيسي عليه السلام تر راتګ وروسته راځي عيسی عليه السلام به د دوی د بربادۍ دعا وکړي، الله ﷻ به د عيسی عليه السلام د دعا له امله دوی مړه کړي او د دوی لوی لاښونه به پر مځکه خپاره وي، بيا به

---

[1] وعن حذيفه بن اسيد غفاري رضي الله عنه قال: اطلع النبي ﷺ علينا ونحن نتذاكر فقال: ما تذكرون قالو ا نذكر الساعة قال انها لن تقوم حتي تروا قبلها ... ويا جوج وماجوج ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ مرغان راواستوي تر څو د دوی لاښونه يوسي په داسي ځاي کي به يې وغورځوي کوم چي الله ﷻ ته معلوم دئ انسانان پرې پوهاوی نه لري. د دوی د لاښو تر غورځولو وروسته به د بد بوی د له منځه وړلو په موخه الله ﷻ باران واوروي تر څو مځکه پاکه او سوکاله سي[1].

---

[1] ... فيرغب نبي الله عيسي عليه السلام واصحابه فيرسل الله عليهم النغف في رقابهم فيصبحون فرسي كموت نفس واحدة ثم يهبط نبي الله واصحابه الي الارض فلايجدون في الارض موضعا شبرا ملازهمهم ونتنهم فيرغب نبي الله واصحابه الي الله فيرسل الله طيرا كاعناق البخت فتحملهم فتطرحهم حيث شاء الله وفي رواية تطرحهم في النهيل وستوقد المسلمون من قسيهم ونشابهم وجعابهم سبع سنين ثم يرسل الله مطرا لايكن منه بيت مدر ولابر فيغسل الارض حتي يتركها كاالزلفة .... رواه المسلم الاقول تطرحهم ، ورواه ترمذي .كذا في المشكوة جلد(۲) صفحه (۵۹۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



### یو سپیڅلی انسان به

# بربادۍ ته د پای ټکی کښېږدي

د رسول الله ﷺ یوه بله معجزه دا ده، چي د یوه داسي انسان د راتګ وړاندوینه یې کړې ده، چي انسان ته یې هیڅ پوهه نسته، چي د امام مهدي علیه السلام د ښکاره کېدلو څخه عبارت دئ چې په وروستۍ زمانه کې به ښکاره کېږي د نوموړي انسان ښکاره کېدل به یو پر ځای کار وي ځکه د الله جل جلاله څخه نافرماني، شرونه او ناخوالي به تر نه حسابېدونکي بریده رسېدلي وي[1].

ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: تر هغه به دنیا ولاړه نه سي تر څو زما د اولادې څخه یو سړی د عربو واکمني ونه کړي نوم به یې زما د نامه سره برابر وي او د پلار نوم به یې زما د پلار د نامه سره برابر وي[2].

رسول الله ﷺ د نوموړي انسان د بڼې په اړه فرمایي: امام مهدي علیه السلام اوږد قد لري، پیاوړي صورت به لري او نرۍ پزه به لري[3].

مهدی علیه السلام به د څلویښتو کالو په عمر را ښکاره سي، وروسته به اووه یا اته کاله عمر نور ولري.

که څه هم د امام مهدي علیه السلام پر پیدا کېدو او د هغه د راتګ پر

---

[1] ابوداؤد (۴۲۸۶).

[2] عن زر عن عبدالله قال: قال رسول الله ﷺ لاتذهب الدنيا حتي يملك العرب رجل من اهل بيتي يواطي اسمه اسمي واسم ابيه اسم ابي ..... الحديث الترمذي ۴۶ – ۲.

[3] بوداؤد (۴۲۸۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیفیت باندي ډېر حدیثونه سته خو د بېلګې په ډول پورتنی کچه بسنه کوي.

## د دجال په نامه به

# یوه لویه فتنه څرګنده سي

د رسول الله ﷺ یوه بله وړاندوینه د یوې لویې فتنې راتلل دي، چي د دجال د راتګ څخه عبارت ده، چي په دوه ډوله دیز ډول او د عامو خلګو په اصطلاح کي خرجډال ورته وایي.

د رسول الله ﷺ د ویناوو سره سم دجال په وروستۍ زمانه کي راځي او د خدایۍ دعوه کوي، خلک ګمراهۍ ته بولي او د ده راتګ د مسلمانانو لپاره لویه ازموینه ده، ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: د آدم علیه السلام د پیدایښت څخه تر قیامت پوري تر دجال لوي (ورانونکی) کار نسته[1].

د دجال د راتګ د کیفیت او توان په اړه رسول الله ﷺ خپل امت ته په پوره ډول ارشاد فرمایلی دئ، چي یوه نمونه به یې بیان کړو، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

په وروستۍ زمانه کي دجال راځي که چیري پر داسي مهال راغلی چي زه پر نړۍ اوسېدم نو زه ستاسو پر ځاي ږرسره جنګېږم او که پر داسي مهال راغلی چي زه نه وم نو هر سړی دي هڅه کوي تر څو د ځان

---

[1] مامن خلق آدم الي قیام الساعة امرا اکبرا من الدجال. رواه مسلم. کذا في مشکوة جلد - ۲، صفحه ۵۰۰-.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره غوره انتخاب وکړي. رسول الله ﷺ زياتوي: دجال ځوان دئ، پېچلي وېښتان يې دي او سترګه يې راوتلي ده لکه چي زه يې د عبدالعزي بن قطن سره ورته ښيم (عبدالعزي د يوه کافرسړي نوم و، د خذاپه قوم پوري يې اړه درلوده، کافر مړ سوی دئ او يوه سترګه يې د خپله ځايه څخه راوتلې وه) که څوک له دجال سره مخ سو نو د کهف سورت لومړی آياتونه دي پر ووايي. د دغو آياتونو لوست مو د ده له شره ژغوري، دجال د داسي لاري څخه راځي چې د شام او عراق په منځ کې ده، بيا به راسته اوچپه لوري ته شکمارۍ کوي، اې د الله ﷻ بندګانو! د الله ﷻ پر دين باندي ټينګ سئ.

ناستو خلکو ترې وپوښتل: يا رسول الله ﷺ! څومره وخت په ځمکه کي اوسېږي؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: څلوېښت ورځي اوسېږي لومړۍ ورځ يې د کال په څېر اوږده ده، دوهمه ورځ يې د مياشتي په څېر اوږده ده، دريمه ورځ يې د اوونۍ په څېر اوږده ده.

اصحابانو وپوښتل: يارسول الله ﷺ! دغه ورځ چي د کال په څېر ده موږ ته د يوې ورځي لمونځونه بسنه کوي؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: يا! بلکي خپل لمونځوته اندازه کښېږدئ. اصحابانو بيا وپوښتل: يا رسول الله ﷺ! د دجال چابکي څومره ده؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: د باران په څېر ده چي باد ور پسې وي.

رسول الله ﷺ د پورتنيو خبرو په تعقيب وفرمايل: دجال به يو قوم ته راسي، دې ته به يې وهڅوي چي پر ده ايمان راوړي او دی په خدايي ومني. هغه قوم به د ده په کړنو وغولېږي، د کمزوري عقيدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثښتنان به وي ایمان به پر راوړي. دجال به د دوی د خوشاله کولو په موخه اسمان ته امر وکړي تر څو باران پر وکړي، اسمان به د الله ﷻ د حکمت پر بنسټ د ده امر ومني. باران به پر واوري، ځمکه به پرې شنه سي، شپه به باندي راسي د دې قوم حیوانان به د پخوا په پرتله غټ سوي وي غولانځي به یې د شیدو ډکي وي او اړخونه به یې پړسېدلي وي یعني چاغ به وي. بیا به بل قوم ته راسي د تېر قوم په څېر به یې پر ځان باندي ایمان راوړلو ته وهڅوي. دا قوم به د ټینګي عقیدې ښتنان وي، د ده غوښتني ته به په یا سره جواب ووایي. د دې قوم په جواب سره به دی په قهر سي مخ به ترې واړوي، د الله ﷻ د حکمت او ازمویني پر بنسټ به پر دوی ویرجن سهار راسي، یعني کله چي شپه باندي تېره سي قحطی به وهلي وي په لاسو کي به یې هیڅ مال نه وي.

تر دې کړنو وروسته به دجال یوې کنډوالې ته راسي امر به ورته وکړي: خزانې دي راوباسه! د ده د امر سره سم به د پیسو خزانې د مچمچیانو د مشر په څېر په ده پسي رواني وي، یعني لکه د مچمچیانو په مشر پسې چي مچمچیاني رواني وي په ده پسې به هم داسي د پیسو خزانې رواني وي.

بیا به یو غوره ځوان راوغواړي سر به یې په توره ور ووهي سر به یې پرې سي د یوې ټوټې په څېر. بیا به یې راوبولي مخامخ به یې کړي د هغه سړي مخ به ځلېږي او خاندي به، دی به په دې کار بوخت وي چي الله ﷻ به عیسی علیه السلام راولېږي. د دمشق د ختیځ لوري پر مناره به راکښته سي لاسونه به یې د ملایکو پر وزرونو ایښي وي کله چي سر پورته یا کښته کړي د مرغلرو په څېر به څاڅکي ترې تویېږي هر کافر ته چې یې بوی ورسېږي بېله مرېنې به نه پاتېږي یعني د بوی په رسېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به مري. د عيسی ﷺ بله ځانګړتيا به دا وي چې ساه به يې تر هغه ځايه رسېږي څومره چې يې د ستر ګو کاته رسېږي.

تر راتګ وروسته به دستي دجال ولټوي تر داسي بريده چې د (لد) نومي ځای په دروازه کې به يې پيدا کړي بيا به يې ووژني (تر مړيني) وروسته به يو داسي قوم ته راسي، چې الله ﷻ به د دجال څخه ساتلی وي، مخونه به يې (د دوړو) څخه ورپاک کړي او د جنت په لوړو مقاماتو به يې خبر کړي.

ورپسې به الله ﷻ عيسی ﷺ ته وفرمايي: زه يوه ډله د مځکي پر مخ راپاڅوم چې هيچا لره يې د جنګ کولو توان نسته، زماسپېڅلي بندګان وکوه طور ته يو ځاي کړه تر څو الله ﷻ يې د دغه راپاڅېدلي ډلي له شره وژغوري، عيسی ﷺ به هم داسي وکړي.

الله ﷻ به ياجوج او ماجوج راولېږي چې د هره لوري به په تلوار سره راځغلي. کله چې يې لومړنۍ ډله راسي د (طبريه) نومي درياب ټولي اوبه به وچيښي بيا به يې وروستۍ ډله راسي وبه وايي: رښتيا هم په دې درياب کي يو وخت اوبه وې، يعني هغې لومړۍ ډلي به دومره ويجاړۍ رامنځته کړي وي چې بيخي به نړۍ بل لوري ته ګرځېدلې وي. وروسته به مزل وکړي تر داسي بريده چې خمر نومي غره ته به ورسېږي چې د بيت المقدس اړونده يو غر دئ. بيا به ووايي: رښتياهم هغه څوک چې پر مځکه اوسېده ټول مو مړه کړه راسئ! د هغه چا د وژني په لټه کي سو چې په اسمان کي اوسېږي. د دې خبري کولو سره جوخت به د اسمان لوري ته ويشتل پيل کړي. الله ﷻ به بيرته پر دوی باندي په وينو سره غشي راکښته کړي څو دوی نور هم وغولېږي.

د الله ﷻ نبي به د ملګرو سره يو ځای په غره کي بند وي تر داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریده چي د نن ورځي تر سلو دینارو به د دوی لپاره د غوایي سر غوره وي یعني دونه به لوړې ځپلي وي چي تر یوه لوی معیار پیسو به ورته لږ خوراکي توکي غوره وي.

بیا به د الله جل جلاله نبي د ملګرو سره د خلاصون لپاره دعاوکړي، الله جل جلاله به یې دعا قبوله کړي، په پایله کي به د یاجوج او ماجوج په غاړو کي چینجي پیداکړي کله چي سهار سي د یوه نفس په څېر به ټوله مړه سوي وي. د دوی تر مړیني وروسته به عیسی علیه السلام د ملګرو سره مل و مځکي ته راکښته سي خو د مځکي پر مخ به یوه لوېشت مځکه پیدا نه کړي، چي پر واوسېږي مګر ټوله مځکه به د دوی په غوړو او بدو بویونو چټله وي بیا به عیسی علیه السلام د ملګرو سره و الله جل جلاله ته لاس په دعا سي، دعابه یې قبوله سي، الله جل جلاله به د اوښانو د غاړو په څېر مرغان راواستوي د یاجوج او ماجوج کالبوتونه به هغه ځای ته وغورځوي کوم چي د الله جل جلاله اراده وي. په یوه بل حدیث کي راغلي دي، چي په (نهیل) نومي ځای کي به یې وغورځوي او مسلمانان به تر اوو کالو پوري د دوی په غشو، لیندیو او تورو باندي اور بلوي بیا به الله جل جلاله باران واوروي چي ټولو ختینو او وړینو ودانیو ته به یې ورسېږي، مځکه به پرېولي، په داسي بڼه چي د یوې پرېولي او پاکي ډبري په څېر به یې پرېږدي بیا به مځکي ته وویل سي: خپلي میوې دي راشنې کړه! او خپل برکت دي بېرته راوګرځوه. د څښتن تعالی جل جلاله د امر سره سم به په مځکه کي زیات برکتونه خپاره سي، آن تر دې چي په دغه وخت کي به د یوه انار څخه یوه ډله خوراک کوي، د انارو په پوست سره به سایه لاسته راوړي، په شیدو کي به برکت ولوېږي تر داسي بریده چي یوه لنګه اوښه به د یوې ډلي خلکو د خوراک بسنه کوي، یوه لنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوا به د يوه درست ټبر خلکو خوراکي بسنه کوي او يوه لنګه مېږ به د يوې داسي ټولۍ خلکو خوراکي بسنه کوي، چي تر يوه ټبر په شمېر کي زياته وي. دوی به همداسي اوسي چي الله ﷻ به يو ښه بوی لرونکی باد راواستوي، د مؤمنانو تر بغلونو به لاندي سي د هر مؤمن او مسلمان روح به قبض سي او ټول شر اچوونکي به پاته سي چي د خرو په څېر به جنګونه کوي، قيامت به هم پر داسي ناپوهو خلګو رامنځته کېږي[1].

---

[1] وعن نواس بن سمعان ﷺ قال ذكر رسول الله ﷺ الدجال فقال : ... ويبقي اشرار الناس يتهاجرون فيها تهارج الحمر فعليهم تقوم الساعة. رواه المسلم الاقول تطرحهم، و رواه ترمذي. كذا في المشكوة جلد – ۲، صفحه – ۵۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوه بې ساري حیوان راتلل

رسول الله ﷺ د خپلو معجزو په لړ کې یوه بله وړاندوینه دا کړیده، چې په وروستۍ زمانه کې به یو حیوان راسي چې (دآبة الارضة) به ورته وایي. خوږ نبي ﷺ د لا ټینګار په موخه فرمایلي دي، چې تر هغو به قیامت نه سي تر څو دغه حیوان نه وي راغلی [۱].

همدا ډول رسول الله ﷺ په قرآن کې اسلامي امت ته ښودلي دي، چې نو موړی حیوان راتلونکی دئ، ځکه الله ﷻ فرمایي:

أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ [۲].

ژباړه : موږ به د ځمکي څخه دوی لره یو حیوان راوباسو، چې د دوی سره خبري وکړي.

قرآن پوهان فرمایي، چې د دغه حیوان څخه موخه هغه حیوان دئ چې رسول الله ﷺ په حدیث کې ښودلی دئ او د قیامت تر راتګ وړاندې به راځي.

یادونه : دآبة الارضة په آخره زمانه کې د ثابت پر وخت راوزي سر به یې د غوایي، سترګې به یې د خنزیر، غوږونه به یې د فیل او غاړه به یې د شتر مرغ په څیر وي، رنګ به یې و پړانګ ته، لکۍ به یې پسه ته

---

[۱] وعن حذیفه بن اسید غفاري رضي الله عنه قال : اطلع النبي ﷺ علینا ونحن نتذاکر فقال : ما تذکرون قالو ا نذکر الساعة قال انها لن تقوم حتي تروا قبلها عشرة آیات فذکر الدخان والدابة .... رواه مسلم. کذا في المشکوة، ۲ټوک، ۴۹۴ مخ.

[۲] سورة النمل، الایه ۸۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پښې به يې اوبښ ته ورته وي او د هرو دوو پښو په منځ کي به يې دوولس ګزه فاصله وي. د موسى عليه السلام لکړه او د سليمان عليه السلام مهر به ورسره وي. د هر سړی سره به يو ځای کېږي هيڅوک نه سي ترې خلاصېداي تر څو د کافر پر مخ باندي د سليمان عليه السلام په مهر باندي د کفر ټاپه ووهي او مسلمان د موسى عليه السلام په لکړه باندي ووهي[1].

---

[1] ابن کثير ۳ - ۳۷۶.

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر درسته نړۍ د لوګي راتلل

د رسول الله ﷺ د معجزو په لړ کي بله هغه وړاندوینه ده، چي د دود (لوګي) په اړه يې کړې ده او فرمايلي يې دي چي په وروستۍ زمانه کي به دغه دود راځي ټوله نړۍ به نيسي. البته راتلل به يې په داسي بڼه وي چي د ختيځ لوري څخه به راځي تر لوېديځه پوري او تر څلوېښتو ورځو پوري به پاته وي کله چي مؤمن ته نوموړی دود ورسېږي داسي احساس به کوي لکه زکام او کله چي کافر ته ورسېږي داسي به وي لکه مست (نشه)[۱].

د رسول الله ﷺ د دغه خبري د ثبوت په موخه الله ﷻ فرمايي:

فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ۝١٠ يَغۡشَى ٱلنَّاسَ[۲]

ژباړه: (ياد کړه اې محمده ﷺ!) چي اسمان به په ښکاره دود (لوګي) سره راتلل وکړي خلک به بېهوښه کړي.

د مولانا عبدالحق دهلوي په اند د دغه دود (لوګي) څخه، چي په قرآن کي ذکر سوی دئ هغه دود (لوګی) مراد دئ چي د قيامت د لويو نخښو څخه يوه نخښه ده او د زمانې په وروستيو کي منځته راځي.

---

[۱] وعن حذيفه بن اسيد غفاري ﷺ قال: اطلع النبي ﷺ علينا ونحن نتذاكر فقال: ما تذكرون قالوا نذكر الساعة قال انها لن تقوم حتي تروا قبلها عشرة آيات فذ الدخان والدابة... رواه مسلم. كذا في المشكوة جلد – ۲، صفحه – ۴۹۴.

[۲] سورة الدخان، الايه ۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمر به له لوېديځ څخه راوخېژي

د رسول الله ﷺ يوه بله وړاندوينه د لوېديځ لوري څخه د لمر راختلو څخه عبارت ده يعني کله چې ماځيګر لمر ولوېږي بيرته به د همهغه لوري څخه راوخېژي ځکه د رسول الله ﷺ څخه رانقل سويدي:

حضرت ابي ذر ﷺ فرمايلي دي: يوه ورځ ماځيګر لمر ولوېدی رسول الله ﷺ زما څخه وپوښتل، چې: ته خبر يې دغه لمر چيري ځي؟ ما ورته وويل: الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهېږي. رسول الله ﷺ راته وويل: دغه لمر د عرش و لوري ته ځي تر داسي بريده چې تر عرش لاندي الله ﷻ ته سجده وکړي بيا بيرته د راختلو اجازه وغواړي، اجازه هم ورکړه سي تر څو دا بل سهار د ختيځ لوري څخه بېرته راوخېژي. يوه داسي ورځ به راسي چي لمر به سجده وکړي مګر اجازه به ورنه کړل سي او ورته وبه ويل سي: ولاړ سه د کومه ځايه چي راغلی يې بېرته پر هغه لوري وخېژه د نه اجازې په صورت کي به لمر بيرته د لوېديځ لوري څخه راوخېژي. د شک پرته به په وروستۍ زمانه کي دا پېښه رامنځته کېږي ځکه دا د يوه رښتيني پيغمبر وړاندوينه ده، چي هيڅکله يې دروغ نه دي ثابت سوي[1].

---

[1] وعن ابي ذر ﷺ قال: قال: رسول الله ﷺ حين غربت الشمس اتدري اين تذهب هذه قلت الله ورسوله اعلم قال فانها تذهب حتي تسجد تحت العرش فتتاذن فيؤذن لها ويوشک ان تسجد ولاتقبل منها وتستاذن فلايؤذن لها ويقال لها ارجعي من حيث جئت فتطلع من مغربها فذالک قوله تعال والشمس تجري لمستقرلها قال: رسول الله ﷺ و مستقرها تحت العرش. متفق عليه. کذا في المشکوة جلد – ۲، صفحه ۴۹۴–.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مځکه به وښويږي

د رسول الله ﷺ د معجزو په لړ کي بله وړاندوينه د مځکي د خسف (مځکي ښوېدني) څخه عبارت ده، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: تر هغه به قيامت نه سي تر څو په وروستۍ زمانه کي خسف رامنځته نه سي البته دغه خسف به يو ځل په ختيځ لوري کي، دوهم ځل په لوېديځ لوري کي، دريم ځل به په جزيرة العرب (عربي ټاپو) کي وي[1].

## په وروستۍ زمانه کي به

# حيوانان خبري وکړي

رسول الله ﷺ د وړاندويني په ډول فرمايلي دي:

زما دي قسم په هغه ذات وي، چې زما وجود (نفس) د ده په توان کي دئ تر هغه به قيامت نه سي تر څو (درې شيان د انسانانو سره خبري وکړي) څاروي، د چلاخي سر او د چمپلانو تسمې به د انسان سره خبري وکړي د انسان ورون (چې د انسان د وجود غړی دئ) به د هغه څه په

---

[1] وعن حذيفه بن اسيد غفاري ﷺ قال: اطلع النبي ﷺ علينا ونحن نتذاكر فقال: ما تذكرون قالو ا نذكر الساعة قال انها لن تقوم حتي تروا قبلها عشرة آيات فذكر الدخان والدابة ... رواه مسلم. كذا في المشكوة جلد - ۲، صفحه ۴۹۴ -.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب انسان ته معلومات ورکړي، چي د ده تر شا د ده په کورنۍ کي پېښ سوي دي[۱].

## په وروستۍ زمانه کي به

# اور رامنځته سي

په وروستۍ زمانه کي يعني تر قيامت وړاندي د وړاندويني په دول رسول الله ﷺ فرمايي[۲]:

د قيامت د لومړيو نښانو څخه به دا وي چي اور به راسي خلګ به د حشر د ميدان و لوري ته شړي.

يادابنت: طبعي خبره ده. چي د پورتنيو کرښو په لوستلو سره به هغه ځوانان، چي د غربي مفکورو تر اغيز لاندي راغلي وي او د نړۍ د زيب او ښکلا په نشه مست و، په دې فکر سي چي د ملايانو سره لا هغه د حجرو او مسجدونو خبري ملې دي، دونه د تمدن څخه ليري دي چي لا هغه د پخوانيو پېړيو خبري يې په دماغ کي دي، ته دا متمدنه نړۍ وګوره! نړيواله کمپيوټرايزډ اداره وګوره! د دنيا پرمختللې ټيکنالوجي وګوره! چي د دنيا هره زاويه د متمدنو خلکو تر ګورټ لاندي ده او ته د ملايانو دا درواغ وګوره چي ياجوج اوماجوج راځي.

---

(۱) رواه الامام احمد في المسند ۸۸/۳، وابن سعد في الطبقات ۱۷۳/۱، والحاکم في المستدرک ۴۶۷/۴، وقال هذا حديث حسن على شرط مسلم ولم يخرجاه ووافقه الذهبي والبيهقي في دلائل النبوة وصححه ۴۱/۶ – ۴۲، البداية والنهاية ۱۵۰/۶.

(۲) وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اَوَّلُ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ اِلَى الْمَغْرِبِ. بخاري جلد – ۲، صفحه ۱۵۴–.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول خلک به خوري، له اسمانه پیغمبر راځي او داسي نور، دا کله کېداى سي او نه د منلو وړ دي ځکه انسانانو ټولي سیارې تر خپل قابو لاندي راوستې، هیچري یې اسمان پیدا نه کړ، دوى لا په هغه فکر دي چي یو وخت به نړۍ بل لوري ته ځي؟

د پورتنیو پوښتنو او د دغه مستعمرو افکار په جواب کي زما له انده که یوازي دونه وویل سي بسنه کوي، چي تاسو په معاصره ټیکنالوجي د زبات تر بریده رسولې ده چي په فضا کي په میلیاردونو سیارې شتون لري ځیني یې سیارې دي، دومره غټې دي چي آن ځیني یې د ځمکي ځو برابره دي ټولي یو له بله سره تېرېږي او هیڅ ټکر نه رامنځته کېږي او په ځمکه کي د پورتنیو سیارو په پرتله ډیر شیان شتون لري او هره ورځ په ځمکه کي په زرونو ټکرونه رامنځته کېږي دا نو ولي؟ که پورتنۍ سیارې یو له بله سره ټکر وکړي دا متمدنه نړۍ چي ځو برابره ترې کوچنۍ ده، ورانه به یې نه کړي؟ هلته به هم معاصري ټیکنالوجي د مخنیوي لپاره یو څه وکړي؟

بله خبره لا دا ده چي د ځونامي تر توپان وړاندي که ملایانو تاسو ته ویلي واى چي یو وخت به دغه ځو هیوادونه یوه ډېره لویه سمندري زلزله ځپي او په سوونو زره خلک به ووژني یوازي به د ګوتو په شمار خلک او مسجدونه پاته سي، بیا به هم تاسو ویلاى چي دا متمدنه نړۍ وګوره ! دا د ملایانو پخوانۍ خبري وګوره. که مولوى صاحب تاسو ته ویلي واى چي یو وخت به د نړۍ ستر ځواکمنان د امریکا د لویې وچي ځنګلیان بېوزلي خلک وي، چي د اسلامي خلافت څخه پټ وه، د درستي نړۍ ښکېلاک به غواړي، تر ټولي نړۍ به یې اقتصاد پیاوړى وي، په جهاني سطحه به د ښکلو ښارونو لرونکی هیواد وي، دومره پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختللې ټيکنالوجي به يې وي چې يوه پانه به لاهم د دوى هيواد ته په قاچاق څوک نه سي وړلاى، د خپلې وچې څخه به د نورو وچو متمدن هيوادونه کنټرولوي، د نړۍ امپراتور مسلمانان به (العياذبالله) د غلو په څېر په غرونو کي اوسېږي، په يوه هيواد کي به ازاد ژوند هم نه سي کولاى، خپل نظر به هم نه سي څرګندولاى يوازي يوه لاره به لري هغه دا چي د دوى ګوډاګيان به جوړېږي، خپلي مذهبي لارښووني به سانسوروي که يې ونه کړي په تور ليست کي به نيول کېږي، بيا به دغه خوار خلګ د نړۍ لوى ښکېلاکګر هيواد امريکا ته ورځي الوتکي به يې يرغملوي، د امريکا په سترو ځايونو کي چي نړيوال شهرت به لري، غورځوي. تاسو به ويلاى چي سړى دونه درواغ وايي چي تر يوه بريده شونتيا ولري، دا کله کېداى سي؟

د پورتنيو خبرو په نظر کي نيولو سره په ډاګه ويل کېداى سي، چي پورته خبري يوه بېلګه وه بلکي نړۍ په لسهاوو ځلي داسي لور ته ګرځېدلې ده، چي انساني فکر به هيڅ نه منل. نو څرنګه چي د رسول الله ﷺ لومړنۍ څو وړاندويني رښتيني ثابتي سوي دي پاته وړاندي ويناوي يې هم له شک پرته رښتيني ثابتېږي.

اى د غرب تر اغېز لاندي ځوانانو! د يوه مسلمان ورور په توګه په درنښت هيله درڅخه کوم چي د نورو تقليد پرېږدئ! خپل استقلال د ځان لپاره خوښ کړئ، په ځان کي همت پيدا کړئ، د خداى لپاره دومره همت خو وکړئ لکه شرق او غرب چي يې لري که تاسو واياست چي موږ تر هغو په همت کي ټيټ نه يو نو زه درته وايم تاسو په خپلو ګريوانونو کي وګورئ لږ وړاندي د انګريزانو د يرغل په وخت کي د ميکناټن څېره وګورئ! بيا د خپلو نيکونو څېرې وګورئ چي د دوى سره جنګېدل، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میکناتن بنې ته تاسي اووښتي یاست او که د میکناتن لمسیان ستاسو د نیکونو بڼو ته اوښتي دي. ستاسو نیکونو چي د خپل مذهب رښتینی تقلید کاوه پر دوی بریالي وو، دوی په نظامي ډګر کي ستاسو تر نیکونو پاته وه کله چي یې تاسو د فکري جګړې په ډګر کي استعمار کړاست د خپل مذهب او نیکونو له تقلید څخه یې بېل کړاست اوس دوی پر تاسو بریالي سول.

تاسو د نړۍ شالید مطالعه کړئ د اسلام پرته چي هر څومره پر مختللي معایشوي لایحې نړۍ ته راغلي دي ټولي د ناکامۍ پر لوري تللي دي، خو د اسلام لارښووني چي له پیل څخه پر کومه بڼه را رواني دي پر همغه ډول ثابتي پاته سوي دي، هیڅ ډول ناکامي نه ده پکښې تر ستر ګو سوې بلکي د سترو نړیوالو فیلسوفانو په شتون کي هیڅ څوک په دې نه دئ توانېدلی چي یوه لږه نیمګړتیا هم په اسلام کي پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایا معجزې هم دومره دي؟

همدا د کتاب د پای کرښې دي، اوس پوښتنه دا ده چې دا د ګوتو په شمار معجزې دي، ایا د رسول الله ﷺ څخه نوري معجزې نه دي څرګندې سوي؟

جواب دا دئ چې د رسول الله ﷺ معجزې دونه زیاتې دي که یې د ریګو او ګاڼو د ډېروالي سره مشابهت ورکړم مبالغه به نه وي ځکه که څوک د علامه سیوطي رحمة الله علیه خائص کبری نومی کتاب مطالعه کړي بې شماره معجزې به یې تر سترګو سي. همدا ډول د معجزات الرسول په نامه کتاب کي د رسول الله ﷺ زر معجزې تر بحث لاندې په ښه سلاست نیول سوي دي، خو په دې ځای کي یوازې هم دومره شمېره معجزې لیکل سوي دي او په دغه شمېره بسنه سوې ده لامل یې دا دئ چې د دې رسالې څخه پیغام د رسول الله علیه السلام د ټولو معجزو بیان نه دئ بلکي په دې رساله کي هغه معاصر تهذیب خوښه خلکو ته دا پیغام دئ چې د امپریالیزم مفکورې هغه خبره له مغزو وغورځوي چې محمد ﷺ د خپلې زمانې یو فکري فیلسوف و، خلګ یې په فکري ډول استعمار کړي وو او د یو لړ تکتیکونو پر بنیاد یې ځیني بریاوې لاسته راوړي وي.

حقیقت دا دئ چې محمد ﷺ د دې نړۍ لپاره د خواخوږۍ پیغام راوړی دئ، هوساینه، ازادي، ستر اقتصاد او داسي نوري بریاوې د ده د لارښوونو په تقلید کي نغښتې دي. د ده کړني د مادیاتو پر بنسټ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ولاړي بلکي د ده په ټولو کړنو کي معنویت نغښتی دئ، چي پورتنۍ کړني یې بېلګې دي.

بله خبره دا ده، چي د رسول الله ﷺ څخه بې شمېره معجزې رانقل سوي دي خو د څېړني له مخي ځيني هغه روايتونه د رښتينولۍ په توان کي ټيټ دي له همدې امله د رسول الله ﷺ څخه هغه معجزې په دې رساله کي رانقل سوي دي، چي د شک پرته رامنځته سوي دي او په رښتينولي کي په نهايي ډول مضبوطي دي.

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علامه رشاد خپرندویه ټولني چاپ کړي آثار

۱. احمدشاهي کندهار (لومړی ټوک)
۲. احمدشاهي کندهار (دوهم ټوک)
۳. په افغانستان کي د یوه بندي خاطرات
۴. پښتو متلونه
۵. د پلار لیکونه لور ته
۶. د کوډو سر نوشت د علمي پلټني په رڼا کي
۷. د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي
۸. شل مقالې (نهمه برخه)
۹. شل مقالې (لسمه برخه)
۱۰. شل مقالې (یوولسمه برخه)
۱۱. شل مقالې (دوولسمه برخه)
۱۲. شل مقالې (دیارلسمه برخه)
۱۳. انکار
۱۴. ستایني او وېرني
۱۵. پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه
۱۶. کشف شاهنامه قبل از دورهٔ مغل
۱۷. انګور
۱۸. پښتو ستا میني بوداپیست ته بوتلم
۱۹. ملي هینداره
۲۰. پولیټکل ساینس ته یوه کتنه
۲۱. د پښتو ادب لنډ تاریخ
۲۲. د میوند فاتح

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۳. کندهاري ورونه
۲۴. پردېس بېنوا
۲۵. د خلیل الله خلیل دېوان
۲٦. پرېشانه افکار (نثري ټوټې)
۲۷. Afghan Shaghasis
۲۸. د کندهار دودونه
۲۹. اوسني لیکوال
۳۰. د کندهار مشاهیر
۳۱. نبوي معجزې (همدغه اثر)

(c) ketabton.com: The Digital Library
د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا :
www.Taleemulislam-Radio.com

# نبوي معجزې

ليکوال:
مولوي عبدالهادي حماد



www.Taleemulislam-Radio.com

Published by:
Allama Rashad Publication Institution
Kandahar - Afghanistan

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**